March 29, 1958

کابل

د ۱۳۳۷ کال د حمل (۱۵)
د ۱۳۷۷ کال د روژې (۷)
د ۱۹۵۸ع کال د مارچ (۲۹)

۱۳۳۷

رحمان بابا

په دې گڼه کښې

- نسخه
- افتتاحیه وینا (الفت)
- بهار او رحمان
- بسرلی
- د عصر زرغونه
- رحمان بابا ته
- درحمان بابا پیاد
- درحمان بابا د شاعرۍ په....
- آوازچه د بابا...
- رحمان بابا
- ملگرو
- رحمان بابا
- لسان الغیب رحمان بابا
- رحمان بابا ته خطاب
- درحمان بابا مقام
- چه مې بابا عبدالرحمن بادشو
- رحمان بابا
- درحمان بابا په یاد
- ای د حسن ترجمانه
- د مشاعرې په شپه
- د تار یخ فلسفه
- کتاب: د بنگ مسافری
- د سوبې زومنه....

واولی •

د له سرې گڼه (٤٥٤)

د «تراخه اوخوازه» له کتاب څخه

نشه

دغم زياني مې د وصال د دلالې نشه ده
دا بېخودي مې په د ې غم د خوشالۍ نشه ده

نه په بهار يمه نازان، نه په ژړا له خزان
دامې بلبل سره په عشق کښې د سيالۍ نشه ده

پروت دې په در له ځان جهان مال واولادې خبر
بې له دې بل څه اې ساقي ستاد بيالې نشه ده

شيخ برهمن که پېژندې شې په زنار و تسبيح
ستا د عاشق د بېخودۍ بوه تالې نشه ده

چه مات شې روغ شې لاپردم شې له شراب دمينې
دا ئې د عشق د جوارۍ د نوخالې نشه ده

(۲۸ کال)   (۲) گڼه

کابل

پنځلس ورځنۍ مصوره

اجتماعي ، ادبي ، او تاریخي مجله

دامتیاز خاوند: پښتو ټولنه

دپښتو ټولنې مشر: گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر: م، د، « ژواك »

پته: کابل نادرپښتون وات دپل خښتي دپله مقابل دتیلفون نمبر (۲۱۲۹۱)

د « ژړاخه او خوازه » له کتاب څخه

چه بلېدله، نه سرېدله، د زړه گی تاخ کښې ډيوه گی مړه ده
و کی نې څله مخالف باده! سړی زړه گی کښې سپرغۍ سړه ده

* * *

پخوا مې داوي که اوس شوې داسې؟ که دادی خوی او طبعه زړه ده
عجيبه وينم دنيا گی ته کښې! پره دی اوره ده، اوره دی پره ده

بسم الله الرحمن الرحیم

ښاغلو او عزتمنو اوریدونکو!

اوس د پښتو ټولنې له خوا د کابل راډیو په مرسته او ملګرتیا پښتو مشاعره شروع کېږي. د مشاعرې د مجلس مشر ښاغلی او پیاوړی لیکوال صدیق الله خان رښتین دی.

دا مشاعره د هغه چا په یادونه او احترام کېږي چه لراوبر پښتانه ئې د بابا په نامه یادوي او هغه عبدالرحمن بابا دی.

دا لوی او درونډ نوم چه احمد شاه بابا په سلطنت کښې وموند، عبدالرحمن بابا په فقیرۍ او قلندرۍ کښې پیدا کړ او د ده قدر د پښتون په نظر کښې له یوه لوی پښتون شهنشاه نه کم نه دی.

خرقه پوشو په خرقه کښې دي موندلی   هغه حظ چه په دنیا کښې دنیا دار کا

د پښتو دغه لوی او ستر شاعر قلندرو مګر دریا خرقه ئې هیڅکله نه وه اغوستې او له کاږه پټکي لاندې به سم ګرزیده.

دریا خرقه خدای نکړه ور په غاړه   رحمان کوږ پټکی تړلی قلندر دی

د دغه صوفي او عارف شاعر په نظر کښې د دنیا جاه و جلال څه قدر او قیمت نه درلود او دا ورنګ زیب او شاه جهان په شان خلق ئې له منصور څخه قربانول.

او رنګ زیب او شاهجهان غوغدي اشراف   صدقه شه تر منصور غوندي نداف

د عشق او معرفت خاوندانو ته ده په ډېر قدر کتل او هر څوک به چه په عشق کښې صادق و، په هغه به ئې سلام وایه.

چه مجنون غوندې په عشق کښې څوک صادق وي * رحمان وائي به هغو باندې سلام

د رحمان بابا عشق د نفس له خاصیته منزه و او شراب ئې هم انګوري نه و.

ده عشق خپل پیر او پیشوا ګاڼه او د مخلوقاتو پلار ئې باله.

د ده معشوقه پخپله عشق و او حسن و ښایسته ګار ئې د عشق مولود باله لکه چه وائي:

نار د عشق پرورش مومي له عشقه   هسې نه چه د خوبانو په سینګار شي

هیڅ موقوف د معشوقو په حسن نه دی   د عاشق خاطر پخپله مینه ښاد دی

عشق دی ذا چه معشوقه شوه وعاشق ته   ښه رخسار د مهرویانو په اسلوب

د ده له دغسې بیتونو څخه معلومېږي چه دی د عشق معراج او لوړې څوکې ته ختلی و او د عشق په حقیقت له نورو نه ډېر ښه پوه شوی و.

ده د خپل عالي شعور او لوړ احساس په رڼا کښې هغه انساني عواطف پیدا کړي و

چه د ده معنوي مقام او بشر دوستي له نورو نه ډېره پورته ښيئي لکه چه وائي:

شهيدان نه دي هغه خونفروشان دي   چه خونې نه خونبها نکړي معاف

د عفو او احسان په باب له دېنه ښه درس بل نشته او دغه عالي مقام ته رسېدل څه آسانه کار نه دی.

عبدالرحمن بابا د تصوف او سلوك په يوه داسې نرۍ او باريکه لاره روان وچه هر څوك پرې نشي تللی، دده لاره او طريقه بېله وه، کوم سالکانه او عارفانه سفر چه ده کړېدی له هرچانه ئې اميد نشي کېدی.

ده له ځانه سفر کړی او له ځانه تېرو، له خپل سره تېرېدل دومره ګران کار ندی لکه چه له ځانه تېرېدل مشکل کار دی.

دی د خطيبانو په شان د منبر په سر ونه درېده بلکه په نفس ئې پښې کېښو دې او خپل نفس ئې له پښو لاندې کړ، لکه چه وائي.

ته خطبه په منبر څه اولې خطيبه   قدم کېږده په ځان باندې منبر دا دی

د مکې سفر اسان دی مرد هغه دی   چه له ځانه سفر کاندې سفر دا دی

د عبدالرحمن بابا ستر شخصيت او قناعت، د ده لوړ همت او استقامت دده استغنا او له خلقو نه بې نيازي دده له دې څو بيتو څخه ډېر ښه معلومېږي. دی موږ ته د خپل ژوندانه وضع او حال داسې بيانوي:

څوك دې را کاندې قسم په کرد کار   که درم لرم په کور کښې يا دينار

زه دينار و درهم نلرم په کور کښې   ولې نور عالم مې بولي د نيا دار

دا په دا چه نه له ځايه چېر نه خوځم   نه د هيڅ يوه مخلوق يم منت بار

آب وخور لکه آسيا په ځای را رسي   په خپل کور کښې مې سکون دی هم رفتار

لکه و نه مستقيم په خپل مکان يم   که خزان را باندې راشي که بهار

دغه راز لوی کسان چه د دنيا بهار او خزان ئې متانت او استقامت ته څه زيان نشي رسولی او په عين فقيرۍ کښې هر چا ته غني او مستغني معلومېږي په دنيا کښې ډېر لږ دي، دغه شان سکون او رفتار هم د هر چا نه نصيب کېږي او دا ضدا د جمع کول څه آسانه کار نه دی.

وروسته له دغې لنډې معرفۍ او د خپل عقيدت او اخلاص له وړاندې کولو د ښاغلو اورېدونکو التفات او توجه د مشاعرې اورېدو ته راګرزول غواړم او هيله لرم چه د دې اشعارو اورېدل بې اثره نه وي او د عبدالرحمن بابا عقيدتمند پرې خوشحاله شي.

له هغو ښاغلو شعراء څخه هم خپله ډېره خوښي څرګندوم چه په دغه مشاعره کښې ئې ګډون کړی او د رحمان بابا روح ته ئې د خپل عقيدت تحفه وړاندې کړېده.

امین الله « زمریالی »

بهار او رحمان

نو ـکی په انـ ـکښیوتی بهار راغی

د ګـلانو هار په غـاړه بیا مالیار راغی

واوری وېلی شوی دغرونو په سرونو کښی   که اوبه د ی یا دسپین زرو آبشار راغی

وږمې و وبل غوټۍ نه په خندا سه نه   ستا دمینی داغ پر زړه مین هزار راغی

که زړه بایلود خپل بلبل د ګل په مینه کښی   لاله هم په وینو رنګ په زړه دغدار راغی

دلیلی اوربل خـوځېږ د ګـلانـو سو   چه صحراء ځخه دمجنون نسیم رو بیار راغی

چنار بورته کړه لاسونه له مستۍ ځخه   تاك له شوقه په ژړا سومی ګـنار راغلی

مجنون بیددی سرتیټ کړی و تعظیم ته خپل   دغاتول په لاس پیاله دمی ګـلباد راغی

سروي لحان کړلو سنـګار وهر ګلی ته ژر   چه بـورا دنسترن او سنبل یار راغی

زر کی راغلی غرورغو کښی په خندا سولی   ارغوان له شرمه سورسو چه دلدار راغی

زانـو راوړ دا خبرو ګـلی کـورته بیا   چه عالم په خوځیدو سوو خت د ګـار راغی

زه هم ووتم صحرا او تماشې تـه چـه   خزان زړه می پسرلی ته نـاقرار راغی

بیا ګـذرمی د رحمـان پر هدیره سولو   له دعا پس دابیان په خوله تکرار راغی

دا بهار ځـه ښه بهار دی ' پیر رحمانه   چه د ګـل ئی رنګ او بوی ستا له مزار راغی

چه می وغوښتو مدد د ده له روح ځخه   نو د روح طوطی ئی هسی شکر بار راغی

دعمل ګلان تومبلی نـور عالم پـه سر   هاپښتون می تش په خوله شرین ګـفتار راغی

چه یکار کښې پټه خوله ده، ګل خوری غله او زه تل،   چرچرك همیش چریږی شوم او خوار راغی

داسی دیـر پسرلی راغله ژمی تیرسوله   ګـل د نورو دپښتون په برخه خار راغی

هرمات خپلی سندری ساز آواز کـوی   دپښتون په بر دی ساز کښی افتخار راغی

دا ترڅو به زما بر خاك باندی ژړا کوی   ځوك چه زما بر پله روان سی وفادار راغی

حقیقت کـه پـه پښه د حقیقت سولو   نو وابه سی چه ګـفتار ته اعتبار راغی

دا تر ګله به دچل په بند کښی بندئی ته   ځوك چه بندوی تل ئی ژو اندیه اضطرار راغی

د فـریب له غولی ووزه سمی لاری ته   و مزله ته نرسیږی چه ګـوزبار راغی

ها الهام و د رحمان چه می بیان کـړلو   زمائی ځه چه ځوك خوشحال چاته آزار راغی

جام دی نوش « کړه زمریالیه » و خت د ګـلو دی

چا د ګـل سره مل نه وی زړه بیمار راغی

محمد شاه ارشاد

پسرلی

د پسرلی وږمو له ځان سره پیغام راوړی — نسیم له ځان سره د مینې والسلام راوړی

د طبیعت استازی هم د خوښۍ جام راوړی — صبا له اوری د رحمت د غه الهام راوړی

بنه بدله د جهان شو له جهان و ګوره

په آینه کښې د جهان بوراړی ځان وګوره

کائناتو او ښت په بل رنګ په طراوت وګوره * غوټۍ خندانه کړه خوله جوړه بزفرحت وګوره

بورا طواف کوی د ګلو عیش عشرت وګوره * په رازونیاز ګل و بلبل مینه الفت وګوره

نه هم تابع د تحول شه ځان وښوروه

بو واړی بیا د تېرو ورځو دوران وښوروه

د پسرلی وږمو ویده پیرته دنیا ویښه کړه

دغه نسیم په خپل افسون وچه صحرا ویښه کړه

په نازویده غوټۍ یو دم باد صبا ویښه کړه

دې تحول د ما تو زړو نو تمنا ویښه کړه

بو واړی زه او ته له خوبه مرخو بجن برا ته یو

بې طراوته بې نشاطه په چمن پراته یو

راځئ چه مونږ هم له بهاره ځنې برخه واخلو

د امید و نو له سهاره ځنې برخه واخلو

د دې جهان ښکلی ګلزاره ځنې برخه واخلو

له نوی دول نوی سینګاره ځنې برخه واخلو

د ځان دپاره په زړه پوری ښه ژوندون جوړ کړو

په اتفاق او اتحاد کور د پښتون جوړ کړو

په مونږه د اسې طبیعي پسرلی د بر راغلی

په ژوندمو د پر د زمانی تحولات لیدلی

مونږه غمونه اند یښنی د زمانی زغملی

سرې تو د ی موه خزان او د بهار ګالی

اوس امیدوار یو چه غوټۍ موږ دزړو وغوړېږي

نهال د هیلو مو په خیر په ثمر و رسېږي

پیغله «وږمه» له ننګرهار نه

دعصر زرغونه

دشلم قرن بهار کښي دننګرار خوږه وږمه یم

چه جنبش ورسره مل دی شورنه ډکه هنګامه یم

بل څه نه یمه رښتیا چه تلـو سوېـم زېږو لی

دخوشحال ایمل دخولې نه راوتلی ترانه یم

سرې وینې ګرمه ګرمې دبیحسو په بدن کښي

درحمان روانه طبعه دحمید شیدا نغمه یم

د «جمال» دفکر سپند کښي طوفاني شوم ځان مې ورک کړ

دپښتو او داسلام نه مرکبه جذبه یم

ښه به ستا یمه بې وېرې له وېجاړ و مخالفه

پښتني روزلې غېږ کښي بې ریا لکه آینه یم

داحمد په لوی هیبت کښي دتدبیر واګي زما دي

په قارشي ء شاه ځلمیانو دخپل عصر زرغونه یم

دغوټۍ په څېر به څو یو پټه خوله دباغ په کنج کښي

که لږ څیر شي ء تاسي ژوندنه دخوښیو ښه غنچه یم

دخمو دېر دونه اوزم دنهضت ښکلي دنیا ته

دخلقت په فابریکه کښي زه په زړه پوري پرزه یم

ښاغلي سمسور سابی

رحمان باباته

ستا پر سوزي خاطري دي   د ښا سور زړګي آرام
هر کلام وي په معنی کښې   نوي ژوند لره الهام
دادب د آسمان لمر ئې   رب درکړی لوړ مقام

دقدرت ستر ممثل ئې دجمال سره دمساز
له عالمه کناره ئې بې پروائې له مجاز

دادب په باغ ؤ بڼ کښې   خوش نوا فصيح لسان ئې
هم دشعر په جهان کښې   بې نظيره حکمران ئې
کندوي غوره تر اطلس کړ   رسيدلی پوه انسان ئې

ژړه دې ډک له جذبوته حقيقت دې راښکاره کړ
کلک غواص دتصوف ئې ماهيت دې راښکاره کړ

په نظر دهر پښتون کښې   پر ښتيا نور البصر ئې
هم دهر پښتون په زړه کښې   ځای لری د زړګي سر ئې
په نړۍ دسوز ګداز کښې   يو بې مثله سمندر ئې

ته باباد پښتنو ئې تول پښتون په تا نازيږی
يوزه نه وايمه داچه هر پښتون هسې ونيږی

له ده بحر چه بهيږی   آئينې غوندې صفا
مبلغ دحقيقت ئې   هم پير و په پير ښا
دخاوند پلوردې کړی   تمنا او تولا

تا د آز زنځير شلولی پر ښتينی چه ملنګ ئې
چپ چار پيره خوځه وينې پيښور کښې چه په تنګ ئې

ښاغلي ممنون باغوانیوال

د رحمان بابا په یاد

لکه بهار چه خپل تأثیر باغ و چمن کښی پریږدی
لکه شهید چه ژوندی نوم خپل په وطن کښی پریږدی

لکه نسیم چه دعطرونو د کاروان سار وان شی
یا لکه شمع چه حیات خپل انجمن کښی پریږدی

یا دژوندون دهنګامو د تو دیدو په اسره
هیڅ ژوندی دمرګ نه وروسته په کفن کښی پریږدی

یا چه همت ئی د شهرت هیڅ احتیاج نه منی
جهاد کښی مړاوځان بی نومه په مدفن کښی پریږدی

لکه چه ګل خپل عطر و بوی په بل صورت وښئی
یا کوم مرشد چه مرګ نه وروسته کرامت وښئی

لکه دغمکی دبخار نه چه سیندو نه جوړ شی
یا د ذراتو تجزیی نه قوتونه جوړ شی

یا د زخمي زړو دآهو تو اوسوزونو څخه
خوږي خبری او دخوند نه ډک شعرونه جوړ شی

یا چه خپل ژوند کښی دخمود او دجمود نه شی تنګ
له مرګه ئی وروسته ښه معقوله نهضتونه جوړ شی

یا چه په ژوند کښی پری حکمونه دبو بل څه وشي
خو چه فناشي له خبرو ئی کتابو نه جوړ شی

د شرقی ستر ګو نصیبه سم به ر نڼا کښی نشته
دبو هو خلکو احترام د غی دنیا کښبي نشته

(پاتی په راتلونکی ګڼه کښی)

دښاغلي: غ «جلالي» شعر

د رحمان بابا د شاعرۍ په لړ کښې

اې د کندک کندک لوټ شوي ورک کاروان بابا

لار باسه مخ کې شه زمونږ کران عبدالرحمان بابا

ویتمن، لیبیاه نرجا کار تاواړه آزاد شو جهان

د استعمار په ضد ولاړ دي خیل، تبر د انسان

الجزایر، تیونس، عدن، ویتنام جنګیږي پښتان

هر ځای چاروټي د مظلوم په مرسته ځکه آسمان

یواځې کاږي مربتوب ته، پښتانه، ظالمان

غواړي چه ړدي کادیونت پلومه تولو بندیوان،

وخت دي مدد کړه اې سپیڅلي مهربان بابا

د حق خواخوږي، د خدای دوست عبدالرحمان بابا

څو کاله تېر شول چه پښتون، پښتونستان غواړي

د استعمار څخه نجات د خپل توطان غواړي

د هر پښتون دباره حق د یو انسان غواړي

په اسلامي برهان حقوق د مسلمان غواړي

غلیم اړم دی، د دوی ورک نام ونښان غواړي

ژبه کلتو ریې دا ردو نرسر قربان غواړي

ورځ ده آزاد په کرامت کړه مظلومان بابا

د ظالمانو له پنجو، عبدالرحمان بابا

روغ له چتراره تر بلوچو، ظلم وزور دی روان

په ګنډو رنډو، ماشومانو، شور ماشور دی روان

نفاق بېلتون. په هره غاړه کور په کور دی روان

ایکل په تورو کړ بنو کام ته سخت بېغور دي روان

په هر آزاد پښتون هر ځای لګول تورونه دي روان

په جیلخانو کي پښتنو باندی سورا ور دی روان

یواځې نشوي قاضي مظلوم قربان بابا

په دغه لار کې د پر ځوانان تېر شول تر ځان بابا

ښاغلی درد مند

آوازچه د بابا عبدالرحمن وخوځیده

جرس د بېسر لی وائی جهان وخوځیده

سپار ارزمې وکړه چه کاروان وخوځیده

مات شوی بړاسو نه بخار الوزي فضا ته

برېښنا کېږه وزه شوه چه اسمان وخوځیده

آغاز د نوی کال انتظارونه کړه تاوده

د ځمکې ننداړونه کهکشان وخوځیده

وزمې د شګو فونه څاڅکي اوښکې له نظره

خیالونه راویښ شوي دي ارمان وخوځیده

مستې د ابا سیند او ترانه وائي خیبر

روانې قافلې شوې ګلان وخوځیده

د سپین غره چه په سر دی غزونې د ځوانۍ

ملي غیرت ځلمی شو چه افغان وخوځیده

ویده ئې په هزار بندې نیولې سالګره ده

دروړ و بل وړانګو ته میدان وخوځیده

چه بودي غوږ نیولی نغمې لی ئې دې هیلې

آواز چه د بابا عبدالرحمن وخوځیده

آهنګ د شاعرۍ چه پښتونخوا راویښه کړه

پښتو د پښتنوالی تمنا راویښه کړه

شاعر چه د قومونو معرفت پیدا کوي
هغه په ولسونو کښې غیرت پیدا کوي

ملنګ عبدالرحمن ملي عزت پیدا کوي
پښتو کښې د پښتون بیا نهضت پیدا کوي

بیامستي ننداري د پښتو رو خوځیدي
دستر ګو ترمې اوښکې به خیبرو خوځیدي

رحمانه ستا په یاد وچه افغان فخر کوي
موسم د پسرلي په تا ګلان فخر کوي

ان ستا په شاعرۍ پښتونستان فخر کوي
ورورې پیژندل شوي شاعران فخر کوي

چه جوړ نشي پښتون دا پسرلي به نوخه وي
دردمند وائي زمونږه هر ګلي به نوخه وي

(داوم مخ باقي)

د رحمان بابا په یاد

د پښتو نخوا د ښکلي بڼ بلبل رحمن بابا د یږي
بابا په لرو او په برو کښې بو شان بابا د یږي

دی د خو ږ منو پښتنو په ادبي دنیا کښې
د ر محترم نولوی پیشوا غیب اللسان بابا د یږي

دده دعزم مدرسې کښې که چا درس و لوسته
وی بانبات نه ئي بهار نه ئي خزان با د یږي

په خدای قسم که زما هیڅ بله صحنه یاده شي
خو د بابا مي آدمیني لوی جهان با د یږي

اي خوږ نسیمه دا سلام مي آبابا ته وایه
زما پیغام آد ګمراهو رهنما ته وایه

ښاغلی نصرالله «حافظ»

رحمان بابا

تا د نظم په تار و نو دی بیلې ملغلرې
جوهریان ورپسې ورک دي له نیږدې او هم دلرې

د معنی صدف دې زړه‌دی هره خوا د ستا خبرې
په هر ځای کښې دي نظر ؤ ځکه ته صاحب نظرې

برت د هجر په انګار دی سوی زړه ستا په کوګل کې
څه چه ته وینې سوز او رکې نور ئي نشي کښي ګل کې

ته په فن د شاعرۍ کې د یو بیل مکتب خاوندئې
د پښتون په خاندان کښې د یو لوړ لقب خاوندئې

د ادب په قومیت کې دا علی نسب خاوندئې
د خبرو قلمرو کې د اول منصب خاوندئې

تا دی خپل شعر ته ایښی مستقل او بیل بنیاد دی
ځکه وای رحمان کړی نوې نوې (اجتهاد دی)

ته پاچا د ټول عالم ئې قناعت باندې رحمانه
که په کور کې دې درهم او دینار نه ؤ مهربانه

بې د مینې له انګاره تاپرې نښو د څه له ځانه
تل الهام د محبت شی ستا د شعر له بیانه

دا جهان ستا په نظر کښې دی له عشقه پیدا شوی
حقیقي عشق کښې مجذوب په دی جذب کې بنا شوی

خپله خونه ورانه جاله درته جوړ تخت د ډیلي ؤ
جام د سرو زرو د نوږو تا ته کم له کنډولي ؤ

تاو دمینی پیداشوی خاص دستاله او سیاپ ؤ
محبت کې تاخزان ډیر غوره کړی له سپرلی ؤ

وی رحمانه پهٔ ارمی کښې داوبویه خیرته نرم
کهٔ دی زړهٔ کباب شوی جوړ دعشق پهٔ اور کې گرم

دخلیل له کعبې پور ته تا دز ړه حرم بللې
تاو چت پهٔ آسمانو نو ډیر ذر ړه قدم ایدلی

دډیرو زړو نو پهٔ سودا کې ئې له غمه ژړیدلې
حوزدزړو نو پهٔ زړه نرمهٔ ئې عالم کې گرځولی

ای دحوزو زړو طبیبه جو ړه تا سره دوا ده
ستا دشعر به دیوان کښې هم قانون دی هم شفاده

ستا دیاره ډیر بهتردی پهٔ زړ گی دغم داغونه
دادا عونه تا گڼلی د جنت د باغ گلونه

چاپه عقل رسوای دی آسمان تهٔ خپل لاسونه
د کور سی ړ دپاسه ایښې تا پهٔ عشق کې قدمونه

ئی نظر دنو رو ستر گو بسی نللی له جها نه
ای دعشق د در ملنگه یه نا مه عبد الر حمانه

له دی ځا یه ستا دربار تهٔ سلامونه درودونه
ورسره دستر گوا وښکی دزخمی زړه کې آهونه

عقیدت اوارادت زړو پهٔ مزار دستا گلونه
کهٔ قبول کړی پهٔ حضور کښې دازمونږ سوغاتونه

نری کال دی خوشالی دهٔ وارهٔ خلك خوشالیږی
خو بابا دستا دسیمی پهٔ ښېتون نادودی کیږی

ښاغلی دوست شینواری

ملګرو!

ملګرو! راشئ او راټول شئ چه لږ کښېنو سره
چه لږ کیسې د دې ژوندون درته بیانې کړمه
دا ده اسرونه ډکې ښکې دا نمجنې سترګې
ملګرو! ستاسو په لیدو ګوندې روښانې کړمه
دا زمانې بې قدره کړې او ارزانه او ښکې
لکه وېلې په سپېره مخ درته روانې کړمه
داد ځوانیه په ځنګدن کښې ارمان جنې سلګۍ
ستاسو په ډاډ او په تسل ګوندې اسانې کړمه
نه یم خبر د څه د پاره م را بللی یمه؟
خو زه له ژونده ګلمن درته راغلی یمه
په نور جهان باندې بهار د آزادۍ وی مدام
خو د رحمان له مځکې لا خزان وتلی نه دی
نوره دنیا باندې اختر وی او جشنونه کوی
د پښتون اوس هم په زړا ارمان وتلی نه دی
جهان د علم او فن رڼا کښې ګوری چېرته لاړه
خو د تیاروته د پښتون کاروان وتلی نه دی
لا د چنګېز له بې دادۍ نه څه وېلی نشی
له دوی نه ترس د زولنو زندان وتلی نه دی
داځه ژوندون دې غم لړلی چه نېر بېږی په دوی
ژونداو جهان خدایږو شرمېږی چه یادېږی په دوی
دا خوار و زار، خواره واره پښتانه ګوری که نه؟
په ځانځانۍ کښې خپل عزیز او اغیار نه پېژنی
لکه خودرو به سره لاله د لوړو غرو لمن کښې
چېرته په کانو کښې وی ورک او ملیار له پېژنی
د زندګۍ نه پرېشانه هسې مړاوی غوندې
لکه یوه مړاوې شان غوټۍ چه بهار نه پېژنی

(پاتې په ١٦ مخ کښې)

ښاغلی لو نګین

رحمان بابا!

بیا ژوندانه نه تلوسي نوي شوی
د میني لاري قافلي نوي شوي

چانه ژړا ، چانه خندا ، چانه
د بار د وصال اندېښني نوي شوي

څوك ئې رنا د حسن ورسول
د چاني ستر ګو ته ګلي نوي شوي

څوك ئې د تار پسي اجل ګرزوی
چا ته د زلفو سلسلي نوي شوي

رنګ اخلی نوی دژوندون ستر ګي
لحکه خو ژاړی د ګردون ستر ګي

په اسمانونو کښي ننا وشوه
بیا ژوندانه باندي ندا وشوه

بیا څه له سره حرکت ونیسه
پېرزو د شاه بیا په ګدا وشوه

بلوبه لري کړی او وبه ځاندی
نور ئي بلتون ته انتها وشوه

وزمو خوره ګړله د زلفو لمن
د زړه چاودلو ابتدا وشوه

بیا به ریدی په غور به و راځی
شهید امید په خندید و راځی

رحمانه ستا په ارمانو نو قسم
په نا امیده امیدو نو قسم
خوندمي دژوند به پسراو کښي نشته
ستا د ناز و بڼې به ګلو نو قسم

نه په ښایست نه ئي به خوندیوه شوم
نشو مه په وه ئې په رمزونو قسم
تېر شولو ژوند ئي د لیدو په تمه
په بڼې وفا ور لحو ګـلو نو قسم

نه په راتلو او نه په تلو یوه شوم
نه په نغمو نه په وز مو یوه شوم

بیا نوی کیږی اشتهار د ګلو
بیا به بلبل ستا ئی ګلزار د ګلو
بیا هنګامې میني ته نوي شولي
چه ور ته و شولو اقرار د ګلو

زړه ته نږې شوي د اسمان لمنې
که متاع شو له د بازار د ګلو
ته ئي رحمان او مانه رحم دومره
لکه بلبلو ته رخسار د ګلو

«لو نګین» غواړی د بورا ستر ګی
چه ګو له ویښتنی ستا ستر ګی

ښاغلی «رشاد» قندهاری

لسان الغیب رحمن با با !

هغه برخې چه پرتې دي ستا پر کلو
په قطره کې ئې ځایږي خم دملو

صفایې ئې دمینا غرور مات که
د ذره وینې ئې ترخوله ځي په قلقلو

چه نسیم دی دمعنی غوټۍ مسکۍ کړه
سره سکروته د کو گل شوه دبلبلو

دښښتو د ادب تـه و ښندل ستا طبعې
دا گلونه چه ئې زېب دی دګا کلو

د پر د بو د لوړ نیا سحر ما نېږي
ستاد شعر دد یوان په څلور قلو

دمعنی د اسمان لاړ شو د پېـر و نی
دالفاظو خورې ذرې ستا په ببیلو

اغېزه ئې پر رواج وخت وملك نه کا
ستاسګه لري چلاو پر پر د و خپلو

ستا د سوی زړه لمبه ده شعر نه دی
چه اوروته ئې کړل پوري به کو کلو

په نخا ئې له ښو وا چو لمخ پټې
چه آهنګ دی له پردي و بوست منګلو

پروانه غوندې چار پېږی ستا ترشمعه
آامه د ر ښتینو د سپېڅلو !

(د۱۳۵ مخ پاتې)

لکه یو ځـګ د زمانـې د طوفا نـونو په سر
پـه تـزلـزل وی آرامی او کـرار نـه پېژني

تو نه تو نه دی څه یو ځای او څه بل ځای پرانه دی
د استعمار په تېـغ پرې شوی بـې خبر پرانه دی

ملګرو ! راشئ چه بابا تـه ننـواتـې ور شو
ورنه به وایو دازمونږه ژوندون ګورې که نه ؟

ستا یو کهول نه زمانې بېل بېل کـورو نه جوړ کـړه
دانیت برګ او دا پاچا نه پښتون ګورې که نه ؟

دادپردو غلط افسون د پښتنو په مینځ کښې
چه وروره له وروره بېلوی دا بېلتون ګورې که نه ؟

«پښتون دی وی خوحریت او آزادی دی نه وی»
دا د رقیب قلم لیکلی مضمون ګـورې که نه ؟

بابا راوبښـه دخودۍ درس دی پښتون نه ور کړه
لږ غوندې رنـګ خودې زمونږ زاړه ژوندون ته ور کړه

رحمان بابا ته خطاب

تا دنیا کړه پښو لاندې ستا مقام دی اسماني

د دنیا هوا نه پورته وینم ستا زندګاني

خلق و لاړ دی ستا مزار ته تا ګڼي له خاورو لاندې

په دا رنګه ګمانونو ده په کار بد ګماني

په ظاهره یو فقیر وې په معنی کښې لوی امیر وې

له خرقې لاندې دې وینم دخو قرنو سلطاني

عالمګیر په پښتو ژبه کې له تا نه بل څوک نشته

د پښتون په قلمرو کښې لرې ته حکمراني

ستا اشعار دي رسېدلي تر هر ځایه هر پښتون ته

د اوبو په شاني وینم ستا د شعر رواني

تا د عشق لمبه راوړې په سوزان شعر کښې ځکه

ډېر پاخه دي ستا فکرونه ډېر روښان ستا معاني

دخدای فکر، دخدای ذکر ستا په شعر کښې ځای وینو

ستا کلام کښې بل تاثیر شته چه دی نه وینم ثاني

ته د هر پښتون بابا ئې دلته هلته لرې قدر

په درنه سترګه دې ګوري هم غلجي هم دراني

د وطن او وخت له قیده ته وتلی ئې هر کوره

ته د نورو په شان نه ئې دخپل عمر زنداني

خضر خیل عمر ښېلی ستا اشعار و ته رحمانه

هره پاڼه د دیوال دې خدای ساتلې له خزانه

(ا الفت)

ښاغلی خادم

د رحمان بابا مقام

تروږمې وه، نیمه شپه وه، لاره ورکه وه، ظلمت ؤ
جګړ، شپېه باران و، ور سره تا انده هیبت ؤ
سیلاب په ټول هیواد باندی راغلی په سرعت ؤ
افغان هلاک کېدلو پښتونخوا باندي قیامت ؤ

نه ناست وي په حجره کښې لکه شمعه ژړېدلی
په ورو دخپل رباب سره په مینه غېږ نیولی
لګیا وي چه د عشق عمارتونه کړي بنیاد
شهباز دی لاس کښې نه ؤ داتېشه وه د فرهاد
د مینې دام کښې ګېر وي نور له هر څه وي آزاد
یا سروه د چمن وی یا وي ونه د شمشاد

کشور د افغانانو دي غږ ښکلو معطر
په دې دعا دی لاس ورو پورته کړی تر سحر
رحمانه، نه عنقا وې په آسمان دی آشیانه وه
بیا در کلی حجره دي په ظاهره بهانه وه
سینه دې له در کړې خدای د مینې خزانه وه
مرغه وې دلاهوت له کهکشانه دی دانه وه

په دې عالي پرواز کښې دې وطن نه هېرولو
له ظلمه چه ژړل دې پښتون دی بادولو
د شعر په اعجاز دې قایل کړی منکران دی
مصري دې دغزلو لکه زلفې د خوبان دی
په تېغ دخپلې ژبې دې ساتلی افغانان دی
بابا درته حیران دنورو ژبو شاعران دی

په څنګ د پښتو کښې چه دې ګوټی وو هلي
پارسی له حجالته سترګې ښکته واچولې

په رمز کښې دي وويې هغه چا و نه غلام
چه کړي يې پښې زلزل د مغولو په سلام

آذان د حريت دې غوږ کښې و وايه د قام
پښتون هيڅری نه نيولی په لومه کښې د دام

پښکه عالمګير په پښتو ژبه وی رحمانه
مقام دي په غيرت کښې هومره لوړ وله هر چانه

بابا ته وي پښتون په پښتنو اله دي ايمان ؤ
تاو ښو دل هغه چه څه سيرت د مسلمان ؤ

جهاد د مغولو الی باندی تا کړی اعلان ؤ
داځکه چه د ظلم به پښتون باندی باران ؤ

ادب نه به داري وی که وو ايو شعر وي
پيغام د لامکان وی په خاکی جثه ظاهر وی

ژوندون دی پيژندلیؤ چه څه رنګه ژوندون دی
داخوب دی که خيال دی او که نه کوندی افسون دی

سرومی دی چه بی شومی که دخلکو جګر خون دی
رشتيا دغه دنيا ده او همدغه يې قانون دی

چرګورو ته دی ور کړه وزرونه د عنقا
تا وويل چه عشق دی د همه جهان آبا

تا وويل چه پاڅه پښتو انو غرندی همت کړه
هغوی هم تا پښان وو، ته هم هغسی غيرت کړه

دحق په مينه جګ شه اری ځان نه کمالت کړه
ما طلبي لاري پريږده نسبت په حقيقت کړه

که ستا په لاره درومي توره شپه به بې سحر شي
داخوار پښتون به هاله سيلانو بر ابر شي

ښاغلی «سیلاب» ساپی

چه مي بابا عبدالرحمن یاد شو

بیا بېرلی نوی نغمی راوړی — زړکو نخري او کرشمی راوړي
بیا د وطن هری دری تېپه له — نسیم خوږی خوږی وږمی راوړی
د غرو لمنو ته میسیو جوپی — گلی گلی رمی رمی راوړی
شپنو شپیلۍ په هسکو شوکو بو کړی — وحت دازاد ژوند هنگامی راوړی
بیا بورا گی په بڼکېدو راغی
خوانه د گل په کډېدو راغی

اورم په زوره ترانه د مینی — ساقی کره د که پیمانه د مینی
بلبلی بیا اتڼ نه بدی وهی — چه شوه راپیغله زما نه د مینی
چتی په هره لخته چرق او باسی — څرمره ده مسته خپلخانه د مینی
دپوی راغبر که کره ژړا کی خندا — پتنگ سره ورکه نذرانه د مینی
په کندولی چه وار زمار اغی
ایله رقیب نن په ژړا راغی

خیال کی چه ژوند په نڅېدو راشی — مراوی ارزو په مستېدو راشی
د کانی کرخه شی تصویر داشنا — زړه کی چه عشق په پخېدو راشی
ماشوم بورا په ترنم ترنم — لکه لا تو په چور ایدو راشی
د کاروان کوچ سترگه چه وبرقېږی — هلته جرس په شرنگېدو راشی
همز و لوو تری کېږی د گلو
اکلیل کړیء جېږ دازادی د گلو

لکه چه زخم شی ناسور د مینی — یا دنیا اور شی په رنځور د مینی
لاچه ! نکار ورته کلزار کرزی — یا ئی شی ژوند په کوه طور د مینی
په چاچه ولو بېږی شعاع د حسن — یا زلفی دار شی په منصور د مینی
چه اولېږه شی څوک د قام په مینه — دغه مقام می دی منظور د مینی
خدا یږو چه څومره مینه مینه ښه ده
هومره له قامه قربان وینه ښه ده ✻

داود شاه ليوال

رحمان بابا !

د پښتو شعر او ادب د باغ ما ليار بابا
هر بسر لي بلبلان ستا ئي ستا گلزار بابا

د عشق او مينې پتنگان دي تل زيارت ته ور ځي
ستا په مزار د بوی دي بلې تر سهار بابا

ستا په هنر ټول پښتانه کړي افتخار بابا
رموز د مينې محبت تا را ښو دلي مونږ ته

د عاشقانو مينانو مدد گار بابا
هر يو شاعر خپله هستي به گلو ور کړه ټوله

او س کوی فکر څه رنگ جوړ کړي تا نه هار بابا
په ډيره ښه او اخلاص پورا ټول شوي مونږه

د عقيده ی : گلو نه ز دو ستا په مزار بابا
نه د پښتون د ملت پيرئي دامينلي مونږه

نه اوږ استاذ ئي مونږه لوستي ستا اشعار بابا
زه ليوال يم د هاغه چا چه وي ليوال د نام وی

د نا خادم چه وي هاغه بو لم سردار بابا

---

* آخ به بهار کي مي خزان ياد شو — په و پښور نگ مي ملنگ جان ياد شو
چه مي د خيال کشوری پرانيستله — د ارزو گ نو لوی کاروان ياد شو
د وطن مينه د قام مينه څه وه — ما ته به درد پښتو نستان ياد شو
په پښتو ژ به مي اعجاز وليده — چه مي بابا عبدالرحمن ياد شو

د رقيب مخ چه را نه تور ښکاره شو
بس کورا و کور د وا ده پېغور ښکاره شو

ښاغلی محمد جان (فنا) صافی

د رحمان بابا په یاد

دی پښکه د الفاظو کیمیا گر دی   ځکه شعر ئې با قیمته له سره زر دی
د نازک خیال څښتن او باهنر دی   د ادب د قافلې امیر سرور دی
په بحرونو کې د نظم موج طوفان دی
فیلسوف د شاعرۍ نوم ئې رحمان دی

په دیوان کې دده ښې ښې ترانې دي   د وفا جفا د مینې افسانې دي
د مجنون لیلا فرهاد خوږې نغمې دي   د معنا په میوه ډکې پیمانې دي
هر یو فرد یې د وفا او عشق اعلان دی
فیلسوف د شاعرۍ نوم ئې رحمان دی

د قدرت خاوند د خیال فکر دنیا کې   د اعجاز الهام تاثیر ئې په وینا کې
محوه شوی د ښه حسن تماشا کې   اوی حکیم د شعر او نظم په کیمیا کې
د ادب په قلمرو کې دی سلطان دی
فیلسوف د شاعرۍ نوم یې رحمان دی

تصوف کې دی څښتن د اوچ مقام وو   زړه ئې ډک د حقیقي عشق په الهام وو
سرشار کړی د وحدت د میو جام وو   ټول اوصاف د شاعرۍ په ده تمام وو
د اشعارو گلستان د ده دیوان دی
فیلسوف د شاعرۍ نوم یې رحمان دی

ای (فنا) ته ئې پاک روح ته دعا وکړه   په ماتم ئې د ملتون بیا ژړا وکړه
په محمدي دخیل کلام انتها وکړه   او له خدای ورته جنت تمنا وکړه
چه د ټول عالم بخښونکی پاک سبحان دی
هم غفور، کریم، رحیم، او هم رحمان دی

ښاغلی معتمد شنواری

ای د حسن ترجمانه

د پښتو د ادب پلار عبدالرحمانه — مړه پښتو شوه له ژوندی ستا له بیانه

د پښتو زاړه کالبوت ته مسیحا شوی — ورنه راغلی د ادب له هسك آسمانه

اورنګ خاوري شو دبدب او نوم ئی هیر شو — ته ژوندی ئي څو چه وي دنیا ودانه

ته خو د روبه شان ئي ګل د لوړو غرووي — بی خبره له چمن او له باغوانه

د دنیا د بر ادیبان دی همسر نه دی — که څه هم دوی رازرغون شول له بوستانه

لکه ونه مستقیم پخپل مکان وی — بي پروا وی له بهار او له خزانه

چه اورنګ د زماني به دي غلام ؤ — د دوهی به غاړه تا ست شاهجهانه

د غنچي غوندي په سل ژبو خاموش وي — لکه بوی هسی په بته خوله ګویانه

ستا د شعر د اعجاز له برکته — داز به پښتو له سره شو له څوانه

تا ویل جهان له عشقه پیدا شوی — ای د مینی او د حسن ترجمانه

ستا مقام ته تصور رسید ای نشی

مونږ دي ستا بوله تخمین او له ګمانه

ښاغلی رشتین

د ۱۳۲۷ د حمل په ۵ شپه په کابل راډیو کښې د رحمان بابا

د مشاعرې په شپه

د پښتو ټولنې د مشر ښاغلي الفت په شکریه او د زړو شاعرانو په اجازه غواړم چه د دوی د پیلو ملغلرو سره زه هم یو څو خوری وری خبرې ملګرې کړم د پښتونستان مشهور مشر عبدالصمد بابا ویلي دي چه د شاعرانو د پرښت د یو قام د پریوتو نښه ده، خو ګوری چه وار خطا نشیء، دا له یو شرط هم شته دی او هغه دا دی چه که شاعری د ساتیرې د پاره وی نو د غه خبره سمه ده او که د یو هدف او مرام د پاره وی نو بیا د یو هې ژوند او ودې نښه ده. نو ځکه اوس غواړم چه د ادب او شاعرۍ د ښودنې او ښې په باب یو څه ووایم.

د ادب دنیا

وائی چه بنیادم یو نور او جامه ئې دوهم نور دی، د غسې ژبه یو نور او ادب ئې دوهم نور دی کله چه یوه ژبه د ادب په ګانه ښایسته شی نو په هغې کښې راښکون او ښکلا یو ځای سره ګکونه وهې. دا خبره هر چا منلې ده چه ژوندی قام به ژوندی ادب لری او ژوندی ادب به د یو ژوندی قام خاوندوی، دا دواړه یو تر بله غاړه غړې وی مګر دا چه کوم ئې د وم‌بی او کوم وروستی دی نو دا به معلومول څه قدر ګران شی.

ادب د ژوندانه تصویر او تفکیر دی

ادب یوه رڼا او ځلا ده،

ادب پوهه او خیر کی ده.

ادب د حق او رښتیاؤ نوم دی.

که څه هم ځینې خلک ادب له ژوند او سیاست جلا بولی مګر دا نظریه په عملی ډګر کښې کوم ارزښت نه لری. البته په ظاهر کښې ادب د ادب د پاره اصطلاح هم شته دی مګر یوه نشه ادبی توته هم د ژوندانه له تصویر او تفسیر څخه نشی خلاصیدای که د مادی شیانو رسم او انځوروی نو د ژوند تصویر او که د جذباتو احساساتو او باطنی شیانو ښودنه او بیان وی نو د ژوند تفسیر بلل کیږی.

سربیره هر کله چه ژوند او سیاست سره لازم او ملزوم دی نو ځکه د ادب او سیاست ترمنځ هم خامخا د ارتباط مزی غزیدلی دی ژوندی ادب په دماغو نو کښې د سیاست رڼا اچولی شی او سیاسی قوت په ادب کښې دودې او ترقۍ سایو کلی شی.

ادب انسانی ژوند له فنا څخه ساتی، او اولسونه له ورلیدو څخه ژغوری د مکسیم ګورکی وایی ادب د انسانیت محتسب دی او غلطۍ او ناپوهۍ ئې ښکاره کوی. ادب انسان نه دا ښیی

چه هغه د خپل ژوند په خپله ښېښنې دی رښتین او لوړ ادب هغه دی چه د حالاتو مربی او تابع نه وی بلکه حالات او وختونه دده تابع وی.

نه او لوړ ادب هغه دی چه د خلکو احسات و خوځوی، خوبونه او عادتونه ئې صفا او حقیق کړی او د خیر او نېکۍ په لوری ئې ولېږدوی نبایی چه ادب هر څوک د ژوندانه په لارو چارو او غایو د خپل فهم سره سم پوه کړی.

د ادب وظیفه دا ده چه پوه خوند ور معنی به یو ښه قالب کښی واچوی او خلکو ته ئې په اصلی شکل وړاندی کړی مبالغه او دروغ د ادب په سپینه جامه بو تور داغ لګول دی

د ځینو ژب پوهانو په نظر به ادب د ادیپ، دیوا او ادیپی) له کلمو څخه اخستل شوی دی چه لومړی یه سانسکریت کښی د څراغ او رڼا په معنا او دوهم په اوستا کښی د لیکلو په معنی دی تر دې چه د دبیر دو تر او دیوان کلمې هم له دغی ریښې راوتلی بولی. په پښتو کښی د بی ډبه هلك اصطلاح هم شته دی په هر صورت مونږ ادب د حقیقت رڼا، د صداقت بریښنا، دوړ ندوامسا او د ګمراهانو بومیا او رهنما بولو د رحمان بابا ادب یو دغسی ادب او به دغو صفاتو دولی ادب دی نو ځکه دی په هغه چا سلام وایی چه په مینه کښی صادق وی.

چه مجنون غوندې په مینه کښی صادق وی * رحمان وایی به هغو باندې سلام

هغه وخت چه حاجی میرویس په قندهار کښی د ظالمانو او پردو حاکمانو له ظلمه تنګ شو نو اراده ئې وکړه چه د آزادۍ دپاره عملی قدم واخلی نو د رحمان بابا دیوان ئې د فال په نیت پرانیت او دا شعر به مخه ورغی:

دغونچې په څیر به پټه خوله کو یا یم

خامو شی زما نیری کا تر غو غاز ما

چه دا شعر ئې ولوست نو خپله اراده ئې نوره هم ونځندوله او څه موده ئې انتظار وویست بیائې څه موده پس د رحمان بابا دیوان پرانست او مخی ته ئې دا بیت راغی:

چه رقیب را نه تر لی په ځنځیر ؤ   خپل حبیب و مانه پرا نیت هغه ور بیا

ددی بیت په لوستلو حاجی میرویس وویل چه اوس د عملی قدم او کار کولو وخت دی هغه ؤ چه د ګرګین پر خلاف ئې پښتانه راوبارول او قندهار ئې د پردو له منګولو وویست او یو پښتنی حکومت ئې جوړ کړ او به دې ډول پښتو ادب د سیاست، ژوندا و قدرت لار پرانستله خدای دې وکړی چه زمونږ او سنی ادب، موجوده ادب، د ځلمو ادب هم د پښتنو دپاره د سیاست ژوند او قدرت لار پرانیزی او دوی هر ځای د خپل ملك او اختیار خاوندان کړی په آخر کښی زه بیا د ښاغلی الفت او شاعرانو شکریه کوم چه ماته ئې د څه ویلو تانګ را کړ.

ښاغلي حسن «سابی»

د تاریخ فلسفه

دوهمه برخه

جهان او کائنات څنګه اداره کېږي او کوم سیر تعقیبوي داید یالیزم ژبا تره مکتبونه پدې عقیده دي چه جهان او کائنات لکه څنګه چه یخپل سر نه دي خلق شوي او یو خالق لري په همدې ډول یخپل سر هم نه اداره کېږي او خود بخوده د یوانتظام لاندې نه راځي بلکه هغه قدرت چه جهان او کائنات د یو نظم لاندې اداره کوي، هغه خدای او د هغه مطلقه اراده ده او جهان او کائنات او عالم هستي یوا ځي او یوا ځي دخدای دقدرت مظهر ګڼل کېږي او دهغه د تجلیاتو نندارتون دی.

او څرنګه چه جهان او عالم هستي یخپله کوم هدف او غایه نلري، نو له همدې کبله حرکت او تغیر هم نه کوي او ځای په ځای ولاړ او ساکن دی.

فرضاً که سیر او حرکت هم وکړي نو دائروي به وي یعنې چه له یو ټکي نه د کائناتو او طبیعت حرکت شروع کېږي او بېرته په هماغه ټکي باندې ودرېږي او تر اوسه پورې چه کوم سیر طبیعت او کائناتو تعقیب کړی هم دی هغه قهقرائي او د فنا او زوال خواته دی نه د تکامل او ترقۍ او بهبودۍ خواته. هګل یو آلمان ایډیالست فیلسوف عقیده لري او وائي:

«د وجود او هستۍ په عالم کښې یو اعلی عقل یا جهاني مطلق عقل شته چه هغه د هر فرد له پوهې او درایت نه لوړ دی او ځان په بشري تاریخ کښې ښکاره کوي او د بشر د تاریخ په بڼه تجلا کوي»

«دغه جهاني عقل کل یخپله د عالم محرکه قوه او د جهان د نظام اداره کوونکی او چلوونکی دی.»

او زیاتوي چه «کائنات یخپل تکامل کښې د یو خلل ناپذیر او نه مغلوب کېدونکي منطق د قوانینو تابع دي»

دی (هګل) د انساني آزادۍ پر سبېر د یوې لوړې او مطلقې ارادې موجودیت ته قائل دی چه هغه مطلقه اراده د جهان مطلق مدیر ګڼي.»

توماس اکوئینس وائي:

«جهان او کائنات د خدای له خوا حکمراني کېږي.»

مګر د ایډیالیزم د دغو عقیدو او ادعا و په مقابل کښې د ماتریالیزم مختلف مکتبونه عقیده لري او ادعا کوي چه:

«جهان او کائنات یخپله په یو میکانیکي او هندسي صورت منځ ته راغلي او د چا له خوانه دي خلق شوي او په یو هندسي او میکانیکي ډول هم اداره کېږي او کوم سیر چه تعقیبوي هغه تکاملي او ارتقائي دی یعنې له پست نه اعلی او له بسیط نه د مرکب خواته درومي.»

توماس هابس په (۱۷) پېړۍ کښې یو انګریز فیلسوف وائي:

«فیزیکي (طبیعي) جهان عبارت دی له یو میکانیکي ساده سیستم نه چه ټول هغه څه چه په هغه کښې پېښېږي ګولای شو چه د اجسامو نسبت و یو بل ته دهغو د تغیر مکان په وسیله په هماغه قطعیت او هندسي روش توضیح او بیان کړو.»

«دی (هابس) حرکت او دحرکت قوانین یا میکانیکي علت او معلول یوازې د عالم دګردش مدار او د جهان دحوادثو د پېښېدو موجب ګڼي او وائي: ټول دغه آثار له هندسي او میکانیك نه مشتق او راوتلي دي.»

آرتو شو پنهاور پخپل یو مشهور اثر (جهان دارادې او اندېښنې په منزله) کښې لیکي:

«جهان په صرف منطق او د عقل په فرمان نه اداره کېږي هرچیرته چه وګورئ او دهرشي زړه چه وسپړئ د یوې ذاتي غریزې پلوشې و نیسئ ژوند او د ژوندانه اداره ددغې غریزې په زړه کښې پټه او خوندي ده.»

هرایکتسوس د یونان یو ډیر پخوانی فیلسوف عقیده درلوده چه ویلي ئې دي:

«دنیا یوه ده او دهیڅ خدای یا انسان په وسیله نه ده خلق شوې او دهمیشه دپاره یوه ژوندۍ شعله وه، ده اووی به چه دهغې خلا او درخښندګي دمعینو قوانینو په موجب کله فروغ نیسي او کله بیا خاموشه شي.»

دمارکس مادي فلسفه پدې ولاړه ده چه.

«دنیا بالذات مادي ده او دجهان رازراز شیان او پېښې دمتحرکې مادې مختلف صورتونه دي او دا شیان او پېښې متقابله روابط او شرائط چه د ډیالکتیك پر اصول استوار دي. دتکامل لازمه قوانین چه دحرکت په حال کښې دي تشکیلوی او دنیا دمادې دحرکت دقانون پر بنا په سیر بڼوا و تکامل کښې ده (روح کل) ته کوم احتیاج نلري.»

«دمارکس، دډیالکتیك ماتیریالیزم دمتافیزیك او ایډیالیزم په خلاف طبیعت متحرك او دپرله‌پسې تحولاتو او ددائمي ترقۍ او تکامل په حال کښې ګڼي چه هره ګړۍ او همیشه یو څه په هغه کښې منځ ته راځي تکامل کوي او یو بل څه متلاشي شوي او له منځه ځي،

داوعقیده لري چه: جهان دخپل تکامل په لیاره کښې چه کوم سیر تعقیبوي هغه دوراني او دابروي نه بلکه مخکښې تلونکی او ارتقائي دی دمدنیتونو دانکشاف او انحطاط عوامل کوم دي؟!

یولړ پوهان عقیده لري چه دمدنیت انکشاف او انحطاط له یو خوا دبشري ټولنو په نژادي او روحي خصوصیاتو او ذاتي صفاتو په څرنګوالي پورې اړه لري او له بلې خوا د طبیعي محیط او ماحول په شرائطو او عواملو پورې. مثلاً: دنژادي او روحي خصوصیاتو په متعلق وائي!

څرنګه چه انسانان ټول ذاتاً مساوي نه دي خلق شوي او په دوی کښې ذاتي استعداد و نه فرق لري چه له همدې کبله

څوک ذکي دي او څوک غبي څوک پوه دي او څوک ناپوه څوک شته من دي او څوک بې وزلی، څوک شریف دي او څوک رذیل او دارسطو په قول چه وائي: «افراد مساوي نه دي خلق شوي او عدم مساوات یو طبیعي امر دی او پدې اساس غلامان آزاد نه دي خلق شوي او په طبیعت کښې اصلاً غلام خلق شوي دي نو دغلامۍ اصل حق دی او له طبیعت سره «موافق» یا داچه وائي «په بشري ټولنو کښې ځینې خلق ذاتاً د نورو دلارښودنې او رهنمائي دپاره او ځینې دنورو لارښودنې ته اړ خلق شویدي»

«جین بودن» هم د ارسطو دغه عقیده تائیدوي» نو بنا په دې ذاتي او نژادي اختلافاتو د ژوندانه په لیاره کښې یو دمخه ځي او د ترقۍ او تکامل لوړو مدارجو ته رسیږي او بل وروسته پاته کیږي او د فقرا او نابودۍ خوا ته درومي.

په همدې ډول د بشري ټولنو په مختلفو نژادونو کښې هم دغه ذاتي او نژادي او روحي امتیازات او اختلافات شته مثلاً په سپین نژاد کښې د ذکا تخیل او ادراك قوه نسبت هر بل نژاد ته ډیره ده او بنا په همدې ذاتي او نژادي امتیازاتو دوی د مدنیتونو په جوړولو او انکشاف ورکولو کښې طبعاً او ذاتاً مامور او او تر هر بل نژاد د نه گړندی او پیاوړی او دمخه دی.

جوزف گوبینو (٦١٧١ ۱۸۸۲م) یو فرانسوي دپلومات او مستشرق او سوسیولوجست و خپل یو کتاب (دانسان د نژاد عدم تساوي) کښې یو فرضیه د گوبینزم په نامه وضع کړې او ویلې ئې دي: «هغه آرین چه خرمائي ویښتان لري او د لوړې جمجې لرونکي دي یا (نیوتنان) د انسان په نورو نژادونو لوړوالی لري په همدې ډول جارج فردریک هگل یو آلماني فیلسوف چه ملي دولت ئې ایډیالیزه کړی او پر نورو نژادونو او ملتونو د آلمان د نژاد او ملت د تفوق او لوړوالي سخت طرفدار دی؛ تاریخ په درې دورو وېشي ۱- شرقي دوره ۲- کلاسیك دوره ۳- ژرمانیك دوره او یوازې دغه دریمه دوره پایداره او جاودانه گڼي او وائي: تاریخ د ملتو ترمنځ کشمکش دی د ایدآل د قوا او (کمال مطلوب) تر فشار لاندې او منتهي کیږي د آلمان په بیدارې او په جهان او اروپا کښې د آلمان په قیادت.»

هگل تردې هم څو گامه دمخه ځي او وائي: «د ملت روح یا (ملي نبوغ) د صنعت، قانون، اخلاق او مذهب او بالاخره د مدنیت خالق دی.»

دغه لرپوهان لکه څنگه چه د مدنیت انکشاف یوازې او یوازې د نژادونو په روحي او ذاتي مزایاوو او صفاتو په موجودیت پورې مربوط گڼي،

په همدې ډول د مدنیت انحطاط هم د ذاتي او نژادي خواصو د عدم کفایت او د ملي روح د ضعف نتیجه بولي. مثلاً: ډاکتر گوستاولوبون عقیده لري او وائي چه: مدنیت هغه وخت د انحطاط خوا ته ځي چه د یو

خالص نژاد وینه له‌نورو سره ګډه شي چه په نتیجه کښې نژادي خواص اوصفات اوملي روح له‌منځه‌ځي اوخپل مدني موجود. له‌لاسه ور کوي.

دغه ډله پوهان د مدنیت دانکشاف اوانحطاط په متعلق سر بیره د نژادي او روحي خصوصیاتو اوتعمیراتو دضعف او قوت له رول نه د محیطي اوطبیعي شرائطو اوعواملو لکه اوبه‌هوا، جغرافیائي موقعیت اومطیط او ...

اول هم ډېر موثر ګڼي اوادعا کوي:

هغه بشري ټولنې چه په یو ډېر سوړ او یا ډېر تود او یا په یو وچ اقلیم کښې ژوند کوي اویا خاورې‌ئې دکرهنې ورنه‌ده اویاجغرافیائي موقعیت ئې له هرې خوا محدود اوفقیر دی، اویایدغو طبیعي محیطونو کښې دژوند کولو شرائط ډېر سخت اودرانه دي نو یدغو طبیعي او محیطي عدم مساعدتونو څرنګه چه دهغو ذهني او بدني فعالیت محدود یا نه کېږي اود ژوندانه شرائط ئې ډېر ګران اوغیرقابل تحمل دي نو ترقي اوتمدن هلته انکشاف نشي کولای اوبرعکس دجغرافیائي او طبیعي محیط و شرائطو اوعواملو د ښه مساعدت او آسانتیا و په موجب مدنیت انکشاف کوي.

دمدنیت په انکشاف کښې سر بیره پر محیطي او طبیعي مساعدتونو دوسیلو افرادو لکه زبردستو لیکوالو او متفکرینو سیاستمدارانو، قائدینو او مکشفینو اونورو نوابغو لاس هم د خیل ګڼي.

مثلاډاکتر ګوستاولوبون وائي: «لوی مکتشفین د تمدن سیر ګړندی کوي مګرلوی سیاسیون تاریخ خلق کوي»

دغه عقائد او نظریات چه دتمدن دانکشاف او انحطاط عوامل نژادي خصوصیات او روحي کیفیات اومحیطي اوطبیعي شرائط ګڼي دیوې ډلې نورو پوهانو له خوا ترانتقاد لاندې نیول شوي اودهغو له‌خوا مردود ګڼل شوېدي. دوی وائي: انسانان ټول مساوي خلق شوي او په ذاتي استعدادونو کښې یو دبل نه‌هیڅ رازتوپیر اوامتیاز نلري داچه دژوندانه په ډګر کښې څوک دمخه تللي اوڅوک وروسته پاته دي یاڅوک غلام دي اوڅوک بادار دا ګرده اختلافات او توپیرونه داجتماعي اواقتصادي اوطبیعي اوضاعو دڅرنګوالي نتیجه‌ده.

سسرو(۱۰۶-۴۲ق،م) وائي «په هر انسان کښې دطبیعت دحقوقو دتشخیص اوپېژندنې مساوي ظرفیت او قابلیت شته اودغه صنعت یوازې فیلسوفانو اویا یو ځانګړې ډلې ته مخصوص اومنحصر نه دی»

رواقیون معتقد دي او وائي: «نژاد دانسان نژاد دی نه‌یو خاص نژاد.» یعني دوی د انسان په‌نژاد کښې بل نژاد نه‌پېژني اوټول یونژاد ګڼي.

ارنولډ تاین بي یو اینګلیس معاصر فیلسوف اومورخ وائي: «دانسان دنژاد عقل او حکمت له‌ډېر پخوانه تراوسه پورې دافسانو په‌وسیله اویه افسانو کښې ساتل شوېدي.»

«که موږ لږ لوی او ستر ی افسانې تر مطالعې لاندې ونیسو معلومېږي چه انسان د تمدن موجد دی مگر نه د یو باشعور نژاد د نو دقانې او بیولوژیکي ازدواج والی په نسبت او نه د جغرافیائي محیط د ښوزمینو او مساعدو تو نو په واسطه بلکه د مشکلاتو سره د جگړې او مبارزې د احتیاج په اثر.»

داچه ځینې معتقد دي چه محیطي سهل او آسان شرائط د تمدن د انکشاف او ظهور موجب شوي برخلاف تاین بی وائي:

«محیطي سخت شرائط د تمدن د ظهور او انکشاف موجب شوي نه آسان شرایط»

«د ترقۍ او تمدن نمو هغه وخت شروع کېږي او تمدن هغه وخت خپل ارتقائي سیر طی کوي چه د جامعې خواب او عکس العمل نسبت د بولو خاصو مشکلاتو او د جامعې مبارزه د مشکلاتو پر ضد نه دا چه یوازې باید بریالي وي؛ بلکه باید د یولړ تازه مشکلاتو محرك او موجد او د یوې نوې مبارزې خالق شي چه هغه بیا هم په بریالیتوب پای ته ورسیږي او دغه د مشکلاتو پیدا کول باید پرله پسې او استمراري وي.» ارنولډ تاین بی او گوستاولوبون دواړه پدې عقیده دي او وائي: کله چه په یوه ځای کښې تمدن منځ ته راشي او د ژوندانه شرائط ورځ په ورځ بهتر او سهلتر شي او مشکلات او موانع لږ شي نو طبعاً د هغه ځای خلك د تنبلۍ او تن پرورۍ لپاره تیسي او کم مورد د مبارزې د پاره نه وي نو هغا پیدی د هغوی فکري او روحي قوا راکده او ځای په ځای ولاړه پاتې کېږي او ورو ورو د خاموشۍ لپاره تیسي او همدغه نکې د یو تمدن د انقراض او انحطاط او تنزل سبب گرزي تر څو چه د مرگ او خاموشۍ مرحلې ته ورسېږي او بیکاره دي چه د داسې ولس د اوسېدو ځای هم د وحشت او اولیه صورت ته ور گرزي»

خلاصه داچه «د تاین بی د فلسفې او تحلیل په اساس په هغو ځایو کښې د ژوندانه شرائط ښه او اسان وي د هغه ځای اوسېدونکی تنبل او تن پرور منځ ته راځي او خپل فکر په کار نه اچوي او د خپل ژوندانه د وضعې د تغییر د پاره هڅا هڅه نه کوي نو ځکه تمدن په دغسې ځایو کښې نه ښکاره کېږي او نه دي ښکاره شوي. مگر په هغو ځایو کښې چه د ژوندانه شرائط سخت وي د هغه ځای اوسېدونکي ناچار د طبیعت د مشکلاتو سره د جگړې په منظور پاڅېږي او د تمدن د ظهور باعث گرزي او کله په داسې ځایو کښې شرائط ورځ په ورځ سخت شي یا اقلا مشکلات موجود وي هغه تمدن د ترقۍ او تکامل خوا ته ځي او یا اقلاً یو څه وخت ځنډېږي» «او هم داچه مشکلات او ازوالي ومرند او د ژوندانه شرائط منځ په سهولت او آسانۍ ولاړل نو په همدغه نسبت تمدن پداسې ناحیه کښې د ضعف او تنزل خوا ته درومي تر څو چه د مرگ او خاموشۍ مرحلې ته ورسېږي»

له پورته بحث نه چه کومه نتیجه پلاس راځي داده:

(د تمدن ظهور د مشکلاتو او سختیو مرهون دی نه د رفاه او اسانیو) (۱)

اجتماعی تحولات څنګه صورت نیسی ؟!

پدغه لړ کښې د پوهانو نظریات او عقائد هم مختلف او راز راز دی او په عمومی ډول په دوه برخو ویشل کیږی :

ځینی پوهان عقیده لری چه هغه عوامل او علتونه چه جامعه له یو حال نه بل حال ته اړوی او د اجتماعی تکامل په توسعه کښې رول لری هغه د جغرافیائی موقعیت او محیط ځانګوالی د نفوسو د شمیر ډیر والی او لږ والی او په جامعه کښې د نوابغو او قائدینو موجودیت او راوتل دی.

یعنی د یوې جامعې نوعیت له یو حال نه بل حال ته هغه وخت اوړی چه جغرافیائی موقعیت او محیط تغییر وکړی یا د یوې جامعې د نفوسو شمیر زیات او یا لږ شی او یا نوابغ او قائدین یا له منځه ولاړ شی او یا منځ ته راشی او د جامعې د نوعیت د بدلولو دپاره اراده وکړی.

دغه پوهان په اجتماعی تحولاتو کښې زیاتره د روحی عواملو او متافیزیکی قدرتونو لاس ګڼډوی مثلاً د ارسطو عقل د تولو تغییراتو او تحولاتو منشاء او اساس ګڼی.

مګر ځینی نور پوهان د تاریخی ماتریالیزم په استناد د دغو پوهانو دغه پورتنی نظریات او عقائد تر سخت او مدلل انتقاد لاندې نیسی او مردودې ګڼی او وائی «پدې کښې شك نشته چه جغرافیائی محیط د اجتماعی توسعې او تکامل له ضروری او دائمی شرائطو نه یو شرط دی او البته په اجتماعی تکامل او توسعه کښې تأثیر لری. یعنی جغرافیائی محیط د جامعې تکامل جریان کند او یا ګړندی کوی!

مګر د دې محیط تأثیر داسی یو تأثیر نه دی چه د جامعې د ژوندانه سرنوشت تعیین کړی ځکه د جامعې تغییرات، توسعه او تکامل په ډیر لحله د جغرافیائی محیط له تغییر او تکامل نه ګړندی پیښیږی.»

مثلاً: د دری زرو کلونو په ترڅ کښې په اروپا کښې دری او حتی په شرقی اروپا کښې لکه شوروی روسیه څلور مختلف اجتماعی رژیمونه یعنی ۱ لومړنی اشتراکی رژیم ۲ د غلامۍ رژیم ۳ د فئوډالیزم رژیم ٤ د سوسیالیزم رژیم برله پسی منځ ته راغلل،

حال دا چه د دومره مودې په ترڅ کښې د اروپا په جغرافیائی شرائطو کښې یا خو هیڅ تغییر نه دی پیښ شوی او یا دومره لږ تغییر پیښ شوی دی چه جغرافیه پوهان حتی د هغه له یادونې نه هم ځان ژغوری، او علت ئې هم ښکاره دی چه د جغرافیائی محیط د یو جدی تغییر دپاره په ملیونو کالو وخت په کار دی حال دا چه د بشری اجتماعی رژیم د ډیرو سترو او ښکاره تغییراتو دپاره څو پیړۍ او یا یو دوه زره

(۱) پدغه متعلق د زیات معلومات دپاره دې د فلسفهٔ نوین تاریخ دارنولډ تاینبې اثر او د بهاوالدین پازارګاد ترجمه او تلخیص ته مراجعه وشی

کاله کفایت کوي، نو بنا پدې جغرافیائي محیط د اجتماعي تکامل یا د جامعې د نوعیت د بدلو اصلي علت او وسیله نشي کېدای »

« ځکه یو څه چه د زرها وو کلو په ترځ کښې نه بدلیږي بلا تغییر پاته کیږي هغه نشي کولای چه د یو داسې شي اصلي سبب شي چه د څو کالو په ترځ کښې له اساسي او بنکاره تغییر اتو سره مخامخیږي »

او بدې کښې هم شك نشته چه د نفوسو زیاتوالی او د هغو د تراکم درجه د جامعې په توسعه او تکامل کښې موثر دي او د اجتماعي تکامل سانه کړي او یائي لږ وروسته اچوي مګر نشي کولای چه د اجتماعي تکامل اصلي علت شي او د جامعې د نوعیت او د هغو د ترقیاتو سرنوشت تعیین کاندي.

که د نفوسو تراکم د اجتماعي تکامل سرنوشت ټاکلای شوای نو باید د بشري نفوسو تراکم یو د بر لوړ اجتماعي رژیم منځ ته راوړی وای، حال دا چه داسې نه ده !

د جمعیت تراکم او د بربنت په چین کښې څلور ځله د امریکا له متحده ممالکو نه زیات دی پداسې حال کښې چه د اجتماعي تکامل په لحاظ د امریکا متحده ممالك د بر د مخه تللي او په چین کښې لا تر اوسه د نیمه ملوك الطوائفي رژیم حکمراني کوي (۱) حال دا چه د امریکا متحده ممالك د بر وخت نو چه د سرمایه دارۍ لوړې مرحلې ته رسېدلي دي په همدې ډول په بلژیك کښې د نفوسو تراکم د امریکا له متحده ممالکو نه ۱۹ ځله او له شوروي روسیې نه ۲۶ ځله زیات دی مګر د اجتماعي توسعې او تکامل په لحاظ د امریکا متحده ممالك له بلژیك نه د مخه تللي او بلژیك له شوروي روسیې نه د یوې تاریخي دورې په اندازه وروسته پاته دی ځکه تر اوسه په بلژیك کښې د سرمایه دارۍ رژیم چلیږي حال دا چه شوروي روسیې د بر وخت و شو چه د سرمایه دارۍ

کار ته ئې خاتمه ورکړېده او پخپل منځ کښې ئې د سوسیالستي رژیم برقرار کړېدی . »

« نو د پورته دلائلو نه دا راوځي چه د نفوسو د تراکم درجه د جامعې د توسعې او تکامل عمده شرط نه دی او داسې یوه قوه هم نه ده چه د اجتماعي رژیم نوع او د جامعې د نوعیت څېره وټاکي »

د دغې دلیلو له پوهانو څخه ځینې په دې عقیده دي او وائي چه: بدې کښې شك نشته چه د مترو او تلیو انسانانو پوهه او اراده او افکار او آزادي او یا سیاسي رژیمونه د اجتماعي تحولاتو جریان په سیر کښې یو څه رول لري، یعنې کولای شي چه د جامعې حتمي او طبیعي سیر وروا و یا ګړندی کړي مګر نشي کولای چه د جامعې د سیر د پاره یو مجرا خلاصه کړي او یا د جامعې د سېر مانع شي او یا د اجتماعي رژیم نوعیت وټاکي او یا د اجتماعي تکامل اساس کښېږدي او یائي ونړوي،

ځکه د انسان فکر او اراده د مادي عالم زېږنده

---

(۱) (در بارهٔ ماتریالیزم ریالکتیك و ماتریالیزم تاریخي) د ستالین لیکنه پدغه مورد کې دا باید هېر نکړی شي چه د چین څخه مطلب شل د پرش کاله پخوا چین دی نه معاصر چین .

او د جامعې د اقتصادي شرائطو او اقتصادي سیستم تابع ده نو یو مولود او تابع موجود نشي کولای چه د یو حتمي او جبري او طبیعي سیر په مقابل کښې تبارز او یا موفقانه ټینګار وکړي.

مارکس تو اپن پخپل کتاب (بشرخه شی دی) کښې لیکي: «بشر محض یوما شین دی چه له ځانه اختیار او اراده نلري او کاملاً د محیط تابع دی او د جهان په حقائقو کښې د اظهار نظر حق نه لري او نشي کولای چه ایدیالست واوسي.»

له پورته بیاناتو نه دا راوځي چه جغرافیائی محیط او د نفوسو د تراکم درجه او د نوابغو شخصیت او سیاسي رژیمونه او نور روحي عوامل نشي کولای چه اجتماعي تحولات او انقلابونه منځ ته راوړي. نو هغه عوامل او علتونه چه د اجتماعي ستر و تحولاتو سبب ګرزي او د جامعې نوعیت ټاکي او په اجتماعي توسعه او تکامل کښې لوی او موثر لاس لري د مادیت تاریخي (ماتریالیزم تاریخي) له نقطهٔ نظره دا عوامل دي:

«د ژوندانه او معیشت دپاره د لازمو وسائلو د تحصیل طریقه یعنې د مادي نعماتو د تولید طریقه لکه خوراک، پوشاک، د استوګنې ځای، سونګ، بوټ او د تولید وسائل او نور چه د ژوندانه او اجتماعي تکامل دپاره لازم او ضروردي.

د دغو مادي نعماتو د ارلو دپاره لازم دي چه هغه تولید شي او د هغو د تولید دپاره باید د تولید آلات موجود وي چه د هغو په مرسته انسان وشي کړای چه د ژوندانه اړتیاوې پوره کاندي او باید دغه آلات هم تولید شي او له هغو نه د استفادې طریقه باید زده کړی شي، د تولید آلات او ابزار چه د هغو په مرسته مادي (کالي) تولیدیږي او په همدې ډول انساني افراد چه دغه تولیدي آلات په کار اچوي او په تولیدولو کښې تجربه او مهارت پلاس ورځي دا ټول په ګډه د اجتماع مولده قوې تشکیلوي»

«د مادي نعماتو د تولیدولو په وخت افراد پخپل منځ کښې د تولید یو ډول داخلي متقابل مناسبات او یو ډول تولیدي مناسبات برقرار کوي.»

مارکس وائي: «افراد د تولید په وخت نه یوازې په طبیعت کښې بلکه یو پر بل هم تأثیر کوي»

نو بنا پدې تولید او د تولید طرز هم د جامعې مولده قوې دي او هم د انسانانو ترمنځ تولیدي روابط او مناسبات ټینګوي»

«څرنګه چه تولید هیڅکله په یو ځای د ډېر وخت دپاره نه ودرېږي او هر وزمرو رشد او تغیر کوي بوضمناً د تولید په طرز کښې تغییر هر ومرو موجب کیږي چه ټول اجتماعي رژمونه اجتماعي اندېښنې، سیاسي نظریات سیاسي موسسات یعنې د ټول سیاسي او اجتماعي نظام د تغییر او تجدید موجب وګرزي» (۱)

---

(۱) دا چه د جامعې مولده قوا او د تاریخ په سیر کښې څنګه د جامعې نوعیت ټاکلی او اجتماعي رژیمونو ته ئې تغییر ورکړی دغه د تاریخي دورو په مبحث کښې لنډ او ډېر پرېې بحث شوی دی.

د نتیجې په ډول د مارکس په فلا کت فلسفه نومې اثر کې وائی: تولید د تولید طرز، د تولید مناسبات، آلات او ابزار او انسان چه دا گرده د جامعې مولده قوې دی د تولید له روابطو او مناسباتو سره بشپړه روابط لری؛ بشر کله چه خپل د تولید طریقې ته تغییر ورکړی د هغه تول اجتماعی روابط تغییر مومی مثلا لاس ژوندنې دغلامۍ رژیم بادی ژوندې دملوك الطوائفی رژیم او بخاری ژوندنې د سرمایه دارۍ رژیم منځ ته راووست»

«د مارکسیانو د عقیدې پر اساس تول تولیدی سیستمونه چه تر اوسه منځ ته راغلی دی د یو لړ اقتصادی طبقاتو د پیدا کیدو موجب شویدی دغه طبقات همیشه یو د بل سره مخالفی وې او ویشل شوی دی لکه مقتدره او داختیار خښتنه طبقه او استثمار کیدونکې او بې وزلې طبقه د دغو طبقاتو منافع همیشه یو بل سره دوخورد کښې وی او دغه د طبقاتو مبارزه ستر قوت او اساسی عامل دی چه اجتماعی اوضاعو ته تغییر ورکوی» او الکه څنګه چه مارکس وائی: د تکامل عبارت دی د اضداد او وله مبارزې نه، نو بنا پدې اجتماعی تکامل هم پدغه اساس صورت نیسی.

د تاریخ فلسفه سربیره پر دغو مسئلو یوه بله مسأله هم تر بحث لاندې نیسی مثلا دا چه آیا بشر فطرتاً او ذاتاً اجتماعی موجود دی او که د ځینو قراردادونو په اثر ئې اجتماعی ژوند اختیار کړی دی؟

پدغه متعلق هم یو هاو مختلف نظریات څرګند کړ یدی ځینې چه مونږ ئې د لته (ایډیالستان) بولو معتقد دی چه انسان اساساً او فطرتاً اجتماعی مخلوق نه دی. او دخپل موجودیت نه تر ډېرو وختو پورې په فردی او انفرادی ډول ژوند کړی دی تر څو چه وروسته د دوی شمیر زیات شو او د یو قرار داد له مخې ئې اجتماعی ژوند اختیار کړ.

مگر برعکس یو شمیر زیات پوهان چه مونږ ئې د لته د ماتریالست په نامه یادوو دغه عقیده مردوده گڼی او وائی: بشر ذاتاً او فطرتاً اجتماعی مخلوق دی په هغه وخت کښې چه د دوی شمیر اړ هم ؤ خو د طبیعت او فطرت په تقاضا او د ژوند د بقا او دوام او د ځان د ساتنې او حفاظت د پاره ئې اجتماعی ژوند طبعاً او فطرتاً اختیار کړی دی.

اجتماعی ژوند د حیواناتو د پاره کوم نوی شی نه دی او نه دا انسانانو ابتکار کړی دی بلکه اجتماعی ژوند څو نور حیواناتو (دانسان په شمول) په فطرت کښې احتیاج شوی لکه دشاتو مچی، مېږیان او نور «نو پدا سی حال کښې چه اجتماعی ژوند یو طبیعی او فطری امر دی نو نه بنائی چه پدې باندی معتقد شو چه انسانانو د یو عجیب او غریب اتفاق او قرارداد پر اثر اجتماعی ژوند اختیار کړی دی! او باید پدې معتقد او سو چه په اجتماع کښې ژوند د انسان یو ذاتی، فطری او طبعی حالت ؤ او دی. او مجبور دی چه د خپل بقا دوام د پاره د خپل همنوع سره یو ځای ژوند وکړی که و نه غواړی ژوند و کړی.

د انسان اجتماعي خلق شوی او همدا دده طبیعي حالت دی او څرنګه چه د اختیار له مخې ئي اجتماعي ژوند نه دی منلی نو د هغه له قیده (که ورته وویل شي) خوشي کېدل هم ورته ممکن نه دی.

د تاریخ فلسفه په تاریخ کښې د تصادفاتو او اتفاقاتو او استثناآتو په حقله هم غږېږي، خو مونږ بدغه مورد کې د (تاریخ څه شی دی؟) په مبحث کښې یو اندازه بحث وکړ او اوس ئې البته د بیا بحث دپاره کومه اړه نه وینو.

دا کونت (کونت د تحققي فلسفې واضع او موسس) د خپل فلسفي متود له نقطه نظره د تاریخ د فلسفې کار د ټولو هغو فنومنو مطالعه کڼي چه د تاریخ عالم فقط په اجمالي ډول د هغو په مورد کې بحث کوي. د کونت عقیده داده چه تاریخ انساني ټولنې ته مخصوص دی او دو کړو افرادو جمادي عالم تاریخ نلري په همدې مناسبت د کونت د تاریخ فلسفه او په نظریه دده د انساني اجتماع د حال او ماضي اوضاعو او حالاتو او اشکالو په باره کښې تو پدې اساس د تاریخ فلسفه د علم الاجتماع یا اجتماعي فیزیك یو قسم کېږي چه بیا په خپل وار په دوه برخو باندې لکه د اجتماع د سکون (استاتیك) علم او د اجتماع د قوا او (دینامیك) علم وېشل کېږي.

د هغه طریقه او متود چه بدغه علم کښې د استعمال مورد پیدا کړي د مقایسې او تشبیه روش دی یعني چه اجتماع له یو ژوندي موجود سره تشبیه کوي او کومه نتیجه چه د هغو د بیولوژیکي تدقیق او تشریح نه په لاس ورځي د یو معیار او مقیاس په شان ئې بیا په اجتماعي وجود هم قابل تطبیق کڼي.

کونت د خپل فلسفي متود په مرسته د اجتماعي رشد په مختلفو مرحلو کښې د عهد دري ځانله مرحلې تشخیص کړې دي لکه:-

۱ د تیولوژیك دوره یا د (وهمي تفکر دوره)

۲ د متافیزیك دوره یا (فلسفي دوره)

۳ علمي دوره یا (د علمي تحقیقي پوزیتیف تفکر دوره)

کونت دغه دریمه دوره وروستنۍ او نهائي دوره کڼي دی وائي: دغه دري ګوني قانوني حالات نه یوازې دا چه په عمومي ډول د علومو په تاریخ کښې او په خصوصي ډول د هر علم په سیر کښې تطبیق شوي دي بلکه د هر انسان په خپل ژوند او د جامعې په عمر کښې هم دا قانون تطبیق کېږي. مثلاً که مونږ هر یو خپل شخصي تاریخ ته یو نظر واچوو نو به ګورو چه په خپل مهمه افکارو کښې دوره کتوب په دوره کښې د الاهیاتو طرفدار او د ثبات او ځواني په دوره کښې د متافیزیك طرفدار او د کمال په دوره کښې د فیزیك طرفداران وسېدلي یو.

هغه علم چه د علم الاجتماع په نامه د کونت د خوا نه را پیدېخوا منځ ته راغلی نه باید چه د تاریخ حقیقي فلسفه ئې وګڼو ځکه چه د دغه علم (سوسیولوژي) اساساً د تاریخ له فلسفې نه منځ

ته راغلی او په حقیقت کښې د تاریخ یو نوی مرستیال او متمم دی په آخر کښې د نتیجې په توګه باید ووایو چه:

د تاریخ حقیقي فلسفه هغه مطالعات کوي چه د هغو نقشه لکه د طبیعي فلسفې او د قانون د فلسفې په مطابق په هماغه ډول طرح شوې وي.

د داسې د تاریخ د فلسفې دا کار نه دی چه تاریخي حقائق تر مطالعې لاندې ونیسي یا د هغو عقلي، طبیعي او اجتماعي عواملو چه د حوادثو په جریان کښې تأثیر کوي د هغو په تحقیق او مطالعه لګیا شي بلکه وظیفه ئې د هغو اساسي مبانیو او مبادیو او اصولو ته رسیدل دي. چه د تاریخ علم هغه داولیه مفروضاتو په عنوان قبلوي او په همدې ډول د هغو منطقي روشونو د خواصو مطالعه ده چه د تاریخ علم له هغو نه کار اخلي.»

«د تاریخ په فلسفه کښې باید له دې نه غافل نشو چه که وغواړو چه زمونږ نظر به کامله وي ناچار باید د تاریخ علم ته رجوع وکړو او له هغو موادو، اطلاعاتو نه چه د دغه علم زمونږ په لاس کښې ږدي استفاده وکړو او په پای کې باید بیا د نتیجې په توګه ووایو چه د تاریخ د فلسفې د جوړولو دپاره د روحیاتو په څوا کښې متافیزیک او متودولوژي (علم معرفت) او منطق ته اړ یو.

داؤ د تاریخ فلسفه او د هغو د بحث موضوعات او مفردات چه په ډېر مختصر ډول ولیکل شو.

نوټ: د تاریخ د فلسفې په او مرېء او د وهمه برخه کښې هغه مطالب چه په دغه علامه محدود او مشخص شویدی له دغو لاندې منابعو نه اخیستنه او استفاده شوې ده:

١ مقدمه بر فلسفه داز را لد کولپه تألیف د ایران چاپ

٢ مکتب های سیاسی

٣ مارکسیزم و فلسفه

٤ تاریخچهٔ نشنالیزم

٥ د حسن عالي بوجل منطق

٦ د غرب تاریخ

٧ ماتریالیزم دیالکتیک وماتریالیزم تاریخي

٨ تطور ملل د ګوستاولوبون تألیف

٩ فلسفهٔ نوین تاریخ دارنولد تاین بي اثر او د بازارګاد یاریسو ترجمه او تلخیص

١٠ عرفان واصول مادی

١١ بشر مادی

١٢ حقوق واصول مادی

محمد انور تاجر مومند

هغه ورځ او دا ورځ

هو! رښتيا پښتو ملي ژبه د ملي وحدت لوی عامل دی. ددې عنوان د ليکلو اراده چه ما وکړه نو ما ته د ملي وحدت د پرلوي خاطرات په مخکښې ودريدل او پيدا شول، او ددې ليکنې يوازينی سبب د يو هغې ننداري په ننداره کښې د ليلی آو مجنون کيسه په پښتو ژبه تمثيل او فلم ښوول ؤ. چه ما د پښتو د فلم په خاطر وليد تاسو ته خو څرګنده نه ده چه د مجنون او ليلی فلم افغانستان ته څو کاله وړاندې د کابل په سينما کښې هم ښووله شوی و- او ښه راته ياد دی چه يو ماښام ځه به د پېره مينه د دغه فلم د ننداری د پاره د کابل سينما ته راغلم او تکس مې د غرفی نه واخست چه پاس جګ شوم کتل مې چه فقط څلور کسه عزيزان (د سرحد پښتانه) ناست وه او زه ئې پنځم شوم، او کله چه وخت د ننداری نژدې شو نو د سينما وظيفه داران مراوی کېدل. او په خپلو کښې ئې سره وېل چه په دا پنځو کسو به څنګه سينما وچلوو په هر حال په دې خبرو کښې سره وو چه څلور پنځه کسه نور هم راپيدا شول، او سره له دې هم کله ئې چه سينما په ننداره ښوولو پــه کار واچوله نو فلم به ئې به د پېره چابکۍ سره تېرولو چه مونږ ترې هيڅ خوند وانخستل شو. او په کوم وخت او ځای کښې به چه د فلمونو په لړ کښې خبرې کېدلې دا کثرو پارسی ژبانو نه به اوريدل کېدل چه «فلم ليلی و مجنون افغانی است فهميده نمی شود» او حال دا چه فلمونه ټول د بېګانه ژبو دی چه کابل ته رازی، نو دلته داسې ښکاريدله چه د بېګانه ژبو سره علاقه من او د خپلې ملي ژبې پښتو سره بې علاقه ګې وه. مګر اوس چه نسبت پخوا ته د پښتو ژبه په ګران وطن کښې مخ په وړاندې روانه شوې ده او د ملي وحدت د پاره خلك را بولی. نتيجه ما ته د دغه فلم په دا اوسنۍ ننداره کښې ښکاره شوه، ځکه زه چه په کوم ځای کښې ناست وم هلته ما د پښتو د ژبې خاوندان ونه ليدل او ټول د نورو ژبو خاوندان و، او د هرې پردې او خبرو د فلم به هر يو

پوره پوهېدلو او پوتر بله بې په پارسو ژبه ترجمه کړاوه، او د خواشینې په ځای کښې ئې خواشینې ښکاره کوله. نو ما ځان سره او ویل چه دا تول د ملي ژبې حرکات دي چه ای کاش چه دا کار د پخوانیو عصرو زمامدارانو هم کړای وی او ښه چه دا علیحضرت شهید خدای بخښلی مرحوم محمد نادرشاه او دده ځوی المتوکل علی الله محمد ظاهرشاه پخوانی او سنی شاهانو په عصر کښې د لویو مفکرینو پاموونه په دغه خوا وګرځېدل لکه پښتون بابا ښاغلی سپین ګیری محمد ګل خان مومند چه په دې لیار کښې ئې د لوړې وار د پاره دستاینې وړ زیارونه وښکاره کړل او ترمر ګه پورې بې کوی بنا په دغه اوس تول پښتانه مکافاتاً په ډېر درانه نامه ورته «مومند بابا» وائی هو دا مې هم یاددی چه دغه موصوف بابا به د پښتو ژبې د زده کولو خلکو ته لارښوونه کوله خاصو عامو ته یوه عجیبه غریبه خبر بر بښېدله او حتی دغه مشر به خلکو د پښتنو په ژرشد او طرفدارۍ تهمتی کړاوه او اوس هر ځوك د املي شي چه دغه ستر شخصیت خاص د ملي وحدت او عظمت د پاره دا زیار ایستلو. پخوا به چه په کوم ځای کښې واعظ په پښتو وعظ شروع کړ نو هغه کسان چه پښتو بې زده نه وه او د وعظ نه ئې فایده نشوه اخستله تري به روان شول او واعظ به په ډاك اریان پاتو شه، او اوس د مجنون او لیلی فلم هر تاجك، اوزبك تر کمن هزاره پوشان په خپله ترجمه کوی او د ننداري نه ئې خوند اخلی دادی چه ثابته شوه چه پښتو ملي ژبه د ... د ملي وحدت لوی عامل دی او بس.

د «د ښک مسافری» کتاب د ښاغلی نور محمد ترکي پوخو را ښکلی او په زړه پوری اثر دی چه د پښتو ژبې د کلي والی ادب د ښکلا او حسن د مدوجزر پوره نماینده او څرګندو ونکی دی.

دا کتاب دیواز یوالی داسې ملګری دی چه که څر ته ورته به پوره پام لرئ نه د ملګری په ستر ګو وکتل شی نو خپل لوستونکی د دنیا او ما فیها له ټولو مناظرو نه بې پروا کوی او توجه ئې خپل ځان ته را ړاوی.

د یو شمېر داسې کسانو په لاس کښې دي چه هغو په خپل ژوند هم لاس نه دی وروړی
که دې ځمکو ته د هغو خلکو لاس رسېدلای چه هغه تکړه دي او غښتلي متې لري
نو د دې ځمکو حاصلات او ښه پالنه به ئې خورا ډېره شوې وای او ډېرې وزلي
او خواران به هم برې ماړه وای او هم به ئې کار موندلای وای. ده ته دا ترتیب
هیڅ ممکن نه ښکارېده او دائې هېڅ زړه ته نه لوېده، چه په نړۍ کښې دې
دا ډول ملکونه موجود وي چه په هغو کښې دې دا ډول ترتیب وي. خو دا فکرونه
به ژر ډېر ورو او کورته د پوښي وړلو په چرتو کښې ډوب شول او تر ډېرو
پورې به ئې ورته پام نه ؤ. وروسته له ډېرو حسابو او چرتو نو ئې دا مسئله چه
د کور د پاره څه شی واخلی فیصله کړه او ددې فیصلې سره سم ئې هغه شیان را ئیول
او تول ئې په یوه زاړه خورجین کښې چه د یو چا څخه ئې د زاړه په بیعه را نیولی و
، ځای کړل او تیار ئې په خپله کوټه کښې کښېښودل.

بله ورځ په کوم وخت چه له یوه ځای څخه رانلی ۱ کانی) ئې و لید هغه
ورته وویل: «چه لا په دې ددوو درو ورځو کښې کډې را ځی. که دې زړه
غواړی چه له مونږ سره ولاړ شی نو ځان چمتو کړه. په بېړلی لېز څه سرگردانی
ډېره وی. خو بوشی دې هغه دا چه مېږې لنګی دی او وزه ؤ شېدې ؤ مستې ډېرې
دی خورا به دې تر هغه ځای به پورې ساعت تېر شی ...» کانی په خورا حیرانتیا
او د تعجب په نظر ورته و کوری. دا ځکه چه «بنګ» په دې موده کښې هیڅ د لاس
او پښو د روند کار نه دی کړی نو تر پخوا چاغ شوی دی او هم له دې کبله چه په
ژمی په نس موړ ؤ او ښې غوړې دې غوړې ډوډۍ ئې وهلې دې نو تر

پخوا ډېر سور او د صحت څښتن بریښې چه د (کانی) کست ورسره وشو او د ځان دپاره ئې همدغه ډول روغتیا او ښېګڼه لوالی وغوښت .

«بنګ» د کانی په دې وضعیت لږ څه په ځان کښې ووهل شو او ګمان ئې وکړ چه کوم شی ئې وران دی چه (کانی) داسې په تعجب ورته ګوری بنګ په دې چرت کښې ؤ چه کانی پر رازغ کړل : « ورو ره ! او س لږ څه بازاری غوندې بریښې نازك شوی هم ئې . د بازار ډوډۍ دې خوړلی ده په تېره چه د بیدیانو کره دې شپې ؤورځې تېرې کړی دی. او س به د یونده ؤژوندخوند درنه کړی او د ومره زحمتونه به په ځان ونه ګاللای شې ! او هم داسې څر ګند یږی چه د جیب څښتن دې نه دې یو څو غرانه هم راغلی دی. زما په خیال په موتر کښې به لاړ شې څو نګه ؟ »

«بنګ» خپل لاس نخر ګ ته یووړ او بیا کانی ته مسکی شو : « دا نه څه وائې په دومره لږه موده کښې زما تر اوسه پوری ستا کروټؤ غوږی نه هېر یږی او ته ماته بازاری وائې . ته راځه دا خبرې به بیا سره سپینو وا و س به ولاړ شو دغه چا کره چیرته چه زه کار کوم چای به در کړم شپه به در کړم سبا به که نلې ولاړ به شې »

«بنګ» دغه کانی ورپسې د بنګ کوټې ته چه نور چوپړان هم ورسره او سېدل راغلل وروسته د ماخستن د ډوډۍ تر خوړ لو بنګ بیخی فیصله وکړه چه له کډو سره ولاړ شی . لومړی ئې دا په زړه کښې ور تېره شوه چه لږ څه وختی ځان کورته ورسوی چه دیمه غنم وکړی . خو بیا ور په زړه شول چه د د ه نیائی خپل خرڅ کړی دی . بل څوك به په «یوی» کوا و کښې ورسره مرسته ونه کړې . د ه خپل دا فکر کانی ته هم و وایه . هغه په دې نسبت چه پوونده دی

او د کرمنې په کار ښه نه پوهېږي له مصلحت ور کړل و ښځه ئې عذر وغوښت خو دومره ئې ور ته وویل: «که له ما سره ځې او تر هغه ځایه پورې زمونږ «اوله» راسره ښرې نو ستاسې د منطقې حدودو ته چه ورغلو زه به در ته (۳) لنگې وزې د لوغزې په توګه در کړم. په منې چه کډې قندهار ته شي وه کېږي بېرته به ئې راولې او زمونږ ته به ئې راکړې»

د (کانې) دې وروستې خبرې بنګ داسې نکې ته ور ساوه چه سم دلاسه ئې ور ته وویل: «ځم! در سره ځم» که (اوله) رابانددې شړې هغه کوم که او ښان رابانددې پیاېې هغه ښه پوولای شم. زه پوهېږم چه له کډو سره زمانګ ګټوردې ځکه چه لږ به ناوخته ور سېږم او تر څو چه پر کښېنوا او به اوړې زه به هم ور شم داچه د کال لوغزه به راکوې داخولا بل نعمت شو»

بیا بنګ یوې زړې خورجینې ته مخه وکړه او هغه ئې راواخیسته او «کانې» ته ئې ور کړه چه تر سر ئې کښېږدې او سهار بې وختې له ځان سره یوسې کوم وخت چه دې خپل حساب له بادار سره پرې کړې نو البته سمدلاسه به ورشې او له کډو سره به ځې.»

دوې شپې وروسته «بنګ» په دې خبر شو چه کډې تېرې شوې او سمدلاسه ئې «باشې» ته وویل چه رخصت ور کړې. هغه ماز یګر د خپل بادار یو مزوې ته وویل چه بنګ دروې. هغه یو زه کښې ور ته وویل: -

«ملکه بنګه خدای خوار کړې او س غواړې چه له مونږ سره بې وفائې وکړې آښه دې چه ځې ځوک دې مخ نشې راګرزولای خو دغو نه دې مونږ ته نا بته کړه چه تاسې باسنیان چه په نس ماړه شئ نو بیا په هره تو که چه وې خپل ځان ور کوئ. د ښه دې ولاړ شه! خو «باشې!» تا ته وایم سهار ئې جیبونه وګوره

اوهم ئې بستره وپلټه چه کوم شی ئې نه وی غلا کړی. په دغو پښو لوڅو څه باور شته ؟»

«بنګ» سهار بیا دفابریکې خوا ته راغی د ه لومړی د ماشینکار سره د خدای په امانی وکړه او بیا راغی له «دوران» او د هغه د ورور سره ئې ولیدل.

دوران ورته ووېل : «سټائی په مخه ښه! مونږ دلته پرېښه ګټه او ښتی بو. داسې ګڼې او فرصتونه کله کله سړی ته په لاس ورځی. نو مونږ نه غواړو چه دا د سرو زرو موقع له لاس نه وباسو او ګور ته ولاړ شو. تر څو چه را چلېږی خو دا ترتیب به چلوو. خو کوم وخت چه را باندې تپه تغره شوه البته مونږ به هم د خپل تګ دپاره ځان چمتو کړو»

* * *

بنګ په ډېره خوښۍ کډو ته راغلی او د کانی له کاله سره ئې روغبړ وکړ هر یو د بنګ په راتګ خوشالی وکړه. د کانی کاله په منی لا یوا و ښه په نیولی ؤ او هغه تراوسه پورې ورسره دی. نو د بنګ کار د ښځو او نجونو سره دا او له په شړلو کښې مرسته وه.

شنو رغو ښکلیو بیدیا ګانو چه په تنکیو ونو پټ دی او د هر لیدونکی زړه له وزایه وړی په بنګ کښې یوه خورا زوره خوښی ایجاد کړه. په تېره بیا پر شینکی ښکلی اسمان باندې داوروسپین تکران چه ځینې برخې ئې سوروبره او ښتې دی او نا به ول د پېغلې نجلی په بار خو ګان دی. یا کې هوا او فراخ اسمان د بنګ زړه نور هم وربور ته کړاو د بوې ګړه د با ره ئې هر څه هېر کړه او خپل راتلونکی ژوند ته ئې په خورا باور او هیلو و کتل او د زړه له کومی ئې یوه غړانګه و ځکوله.

د کتنې هغه بلوروهم غټ مازيګر لا زمه را وستله نه بوازې دا رمه راغله
اورې رمې هم چه سپينې ميږي په شنه ورشو کښې لګه مانغلري غوندې بريښېدې
راښېوه شوې . هره رمه له کېږدۍ څخه بېله ارته پنډېږي او ميرمنې په خورا
فعاليت او اوچتوالي سره لوښي په لاسو کښې درمې خواته درومي .

هرې ميرمنې يا پېغلې دانې اچولي دي نه بوا د پهلوانې ميدان ته درومي
دووی خوشالي او ښه زړه ورالي هم بيخي څرګندېږي څنګه ښيا لوی لوی
دیګونه به د وو د وو سره سره ا خيستی او د کيږدی مخ ته ئې
سره ښودی . هره ميرمن چه کشوله شيدو ډکه کړي هغه راوړي په ديګو
کښې ئې اچوي او بيا ئې بله ډکو ډکوي . دوی استعري ميږي څخه
فقط يو څو (داري) لوشي . ځکه چه ډيرو شيدو د پاره نه ځاى لري
او نه ئې څو ندي کولاى شي .

به دې وخت کښې دوريو يا داليرو کدې بغارې اوله ورا يه د ميږو (ريا)
دليد ونکو زړه د کلو غوندې غورزوی او خورا خوندوره منظره ئې وی . داليرو
مخ نه زاړه هلکان او يا غټکې غوندې نجونې لښتې په لاس کښې چمتو
ولاړي وی او کله کله دورې منډې وهی چه وزې دميږو د رمې له حوالې
وکرځوي او کله دوړي . او خورا د برزوزه وی به تېره بيا هغه وخت دليدو
او تماشې وی چه شپه اشاره ور کړي چه وری را خوشې کړي وری له بوی
خوا منډې ور وهي او ميندې ئې له د اېلي خواپه ريا رازغلی ترڅو چه (اوله)
په رمې کښې نوی شي . تردې تر ۱۵ دقيقو پوری وری خپلې ميندې نشي
موندلاى او هر وری کله تر يوې ميږ لاندې شي چه هغه ئې بوی کړي چه ئې

خپلو ډوبرو دربېږي او که ئې خپل نه ژ نوئې به سر وو هي. او دا عمل خورا ډېر
محلي تکراريږي.

په دې موسم کښې پونده لوی لوی مزلونه نه کوي ځکه چه ورې ئې تنګی وي. بنګ هم خورا خوشاله دی چه د خپل کور په خوا ژوان دی او ژر به خپله مور او خويندې ووينی. دې به دې شپو کښې خپل کهول ټول په خوب وينی.

د دغې ورځې په ما زيګر باندې لږ څه فعاليت نور هم ډېر شو (کانی) بنګ ته وويل چه: «په منی او ژمي د سودا ګرو مرکې او لا نجي وي په لومړي پسرلي د (چل بك) والا عمونه وي. دا ژمونږ لومړی تابي دی چه (چل بك) پر يکوو. د کانی د کېږدۍ له څنګه سره ئې چل بك والا ونه ځای پر يوه غونډۍ باندې ورجوړ کړی دی د درو کسو محصلانو غمچېنی په ملا کښې دی او سپين چغې موزې ئې په پښو دي او د «چل بك والا» مخ ته په احترام ولاړ دی. په بيړه خان او لس دولس کسه غټېږ بدونکي پر اتول شول او په خبرو اترو بيل شو.

بنګ زړ ورې او مېږي د «کانی» د نور ګډا له په مرسته سره بېلول.

په دې وخت کښې يوه سړي له غونډۍ پر راږغ کړه چه: «ورشه! د خان صاحب له کوره هغه چا ښکي چه ډېبو چای په کې پوخ شوی دی له نورو ژنکها نو سره راواخله او راني وړه!»

بنګ هم له خدايه دغه غوښتل او په منډه ئې هغه کار اجراء کړ او بيا د دوی و خبرو اترو ته ودرېد. په منی «بنګ» د سودا ګرو په ډېرو خبرو نه پوهېدی. خو اوس د (چل بك والا) په اکثرو خبرو پو هېږي.

د چل بك والا او د ې خان او غټېږ بدونکو تر مېنځ خورا تو دې او سرې خبرې سره وشوې او کله کله خو به لا سره و ګوا شېدل هم.

چل یك والا ورته وویل چه: «تر یرو سبز کال به مې نه کموی. پرو سبز کال چه هغه بل ماموروُ هغه ته مولس زره پر «پارچه» ور کړې او لس زره مو دده «لاس سره» ور کړی. سبز کال امر راغلی دی چه چل یك یو به دوه دی. نو باید د پر و سبز کال په اساس خونې را کړی؟ یعنی شل زره پر «پارچه» او ....»

یوه سپین ږیری ورته وویل: «که یوازې نه وای او یوازی دلته چل یك اخستل کیدلای مونږ به شل نه سل زره در کړې وای. خو نه پوهیږی صاحبه چه مونږ لکه اوښ څوڅایه حلالیږو او دهری منطقې مونږ نه ستر گی وی»

وروسته له ډیرو لنډو اوږدو دا رنگه فیصله شوه:-

«د .... خان کلي چه (۸۵) کوره لری دو لس زره به پر «پار چه» ور کوی یعنی دچاپي رسید په مقابل کښې به ئې ور کوی چه هغه خزانې ته تحویل شي او دغو نه به هم «لاس سره» یا «لنگی» ...»

پردې فیصله نامې باندې ئې دغیږ بدو نکو او دخان گو تې او مهر ولگاوه او بیائې ورته وویل: «دخان صاحب زه ځم! دیو ندهٔ یو بل کلی ته تا سی کوز اړو لی دی. ما نه اوس دستي څرك احوا ل را ور نو زه به دا یو محصل تا ته دربریږ دم چه ته دا «جلا» په نوله کړې او سبا تر او مې غرمی پورې به دا «شی» را رسوې که مو نه کړ ې برا بري نو څر گنده ده چه څلور کسه غیږ بدو نکي او نه به دمحصل سره هلته راځيء او تر هغو پوری به له ما سره یاست تر څو چه روپۍ را کړیء دا مې گوره ښه درسره و کړل. که بل څوك وای والله که موسبا کده ځینې کړی وای. او دلته به ئې میشته کړی وای. مونږ خواوس لار چلوو. نن مو دا به زړه کښې وی چه خلك را څخه خوشاله وی»

بیا محصلانو داسې زینان ورته ونیول او دواړه چل بلک والا چه د عمومي چل بلک تولو او غړي دي سپاره شول او په یوه ګړه کښې د جنوب خوا ته له سترګو نهام شول.

بنګ په دې لپاره خوابدي شو څکه چه ده په زړه کښې ورتېره کړې وه چه اوس به کانۍ له ده څخه پیسې وغواړي او دا « ۳۰۰ » افغانۍ چه دیور ورو د پاره ئې ساتلې دي څخنې واخلي او په چل بلک کښې به ئې ور کړي. خو د بنګ دا تصور ژر غلط ثابت شو او د کانۍ مور (کوری) خلاص کړ او له هغه څخه ئې د ژړې بنۍ پر ه غړ ته را وکښله او بیا ئې خپله (جلا) چه (۲۰۰) ! فغانۍ ورو تلې وې ور کړې.

بنګ د دې عمل په لیدلو خورا خوشحاله شو او تول صورت ئې داډول سپک شو لکه له اوږو څخه چه ئې بو لوی پیټی اړولی وي. بنګ خپل زوړ تلتک چه په بیا ر کښې ئې رانیولی و، سره د او سپې دیوه ځاله او خپلې غوټې چه د کور پو شی ئې په کښې دی راواخستل او پر هغه ځای باندې ئې ځان ته ځای واچاوه پر کوم چه د چل بلک والا « نرماز بکړه پورې ناست وو » بنګ » دېره موده په خوبه کښې ویده شوی و او دا پنځه شپږ میاشتې ئې دغه راز شپه نه وه لیدلې. دا چه پر شین آسمان باندې ئې ځلیدونکي او روښانه ستوري د ومره د پر و لیدل چه د ده سترګو کار کا وه نو ئې بې واکه داسې ډول له ځان سره په خورا شریولي ژغ وویله: « آسمان په ستورو ښایسته دی * لکه دیډنۍ نجلۍ غاړه په خالونه » بنګ تر ډېره پورې د دې برزنده پورې منظرې سیل کاوه او خوب ئې له سترګو تښتېد په تېره په دې تپه تیاره شپه کښې چه لاندې د کیږدیو اورونه وینی لو عجیب حالت ورته پیدا شي.

دا چه «کاڼي» یې سی ته ځنې واخستلې او هم به خورجین کښې د مور او د خوېندو دپاره یو یو کمیس لري او هم ئې ژمي به ښه نو که نیر کړ ځان دومره بختور گڼي چه دهغه سازي په تولهیزې کښې نه گوري، او له ډیري خوشالۍ ئې هره گړۍ ستوني سره نښت .

ځکه چه سهار کډې ناوخته بار بیږي نو «بنگ» تر ناوخته پورې بیده وُ سبا چه بیا وا ئیږ د پېدل او پر بله مېنه ئې واړول نو بیا هغه ډول نور «چل یك والا» البته له بلې منطقې څخه ورته راغلل او بیا هغه ډول صحنه جوړه شوه چه په ډای کښې په ښځه زره افغانۍ «پار چه» او ښځه زره «لاس سره» فیصله وشوه (کاڼي) د بنگ د پوښتنې په ځواب کښې وویل: «تر څو ددې ولایت تر علاقې وزونو او ځایونو نیز دغه ډول «چل یکونه» ورکړو وروستی منطقې ته نسبت نورو منطقو ته خورا لیز چل یك ورکړو. په دې خبرو پسې مې گرزه خپل او وزه او شپږدي ورته وهه. وروسته تر دوو دغه ډول مزاو دیو ونده وُ کډې هغه ځای ته راغلې چرته چه بنگ په منی ور سره یو ځای شوی وُ. په هغه ماښام باندې د «کاڼي» کاله ده د چلا کېدو په وپاړ خوراله په کاسه (شپږدي وُ غوړي) تیار کړل د کاڼي مور ورته دو یل : –

«بنگه زویه ! پر مور مې دې ډېر سلامونه وایه . دا دری وزې چه ته یې له غزه بیایې ښه یام پر کوه چه در څخه ور کې نه شي دا زمونږ د کاله او ستاسې د کاله ددوستی نخښه ده ، زه اوس دومره لوی مزل نشم کولای که نه وی زه هم ستاسې کره د سره تلم او ستا خویندې مې کتلې . که مې خوښې شوې وای

نو یوه به مې په مخې در څخه غوښتې وای. ځکه چه ځر یعنې د « کېني » کشر ورور خومې لا برا وزوسپوردې اوواده به ور کوم بل دا چه که هر وخت بیا په مخې د ورې تلې نوز ما کو ر ستا خپل کو ر و ګڼه او له مو نبز سره به شیوه شې .

سهار ئي یوه پنډه پټیره ور تر ملا کړه او درې و زې او درې مرغو مې ئي په لاس ور کړه او بنګ ئي د کور خوا ته رار خصت کړ .

د بنګ بښې له خوشالۍ ځمکې ته نه ورځې او ښي له دې چه په خپله ستړ یا و پوهیږي ګورې چه وزې او مرغومې ئي ستړې کړل . شپه ئي په یوه کلي کښې و کړه او سبا ئي خپل کلي ته ورغی . . . . .

د کلي ځینو کوچنیانو ولید او په منډه ځیني بنګ ته راغلل او ځینو د بنګ د کور خوا ته منډه کړه چه دده پر مور ئې ندی زیرې و کړي یوه کو چنې بنګ « ته وو یل : زیرې مې در باندې تاته خوئي په مخې کوزده در کړې ده . »

له «چاینا ان ټرانزیشن» څخه

دسویي زومنه (ښوروا)

یوښکاري «اوانتي» ته یوه سویه دسوغات په ډول راوړه.

اوانتي خوشاله شو، او ده ته ئې له همدغه سویي نه په ښکلې زومنه جوړه کړه او وربې کړه. یوه اونۍ (هفته) وروسته دروازه وټکېده.

اوانتي وروږغ کړه: چه «څوک یې؟»

ښکاري ځواب ورکړچه: «زه ستاهغه اشنایم چه سویه مې درته سوغات راوړی وه»

اوانتي بیاهم ورته دسویي دزومنې میلمستیا ورکړه.

لږ ورځې وروسته پنځه شپږ تنه راغله او ناري یې کړې: «موږ ستا د هغه اشنا اشنایان یو چه سویه یې درته دسوغات په توګه راوړې وه»

اوانتي دوی ته هم دزومنې او چای میلمستیا ورکړه، داخبر خپور شو او یه لند وخت کښې ۹ یا ۱۰ تنه نور داوانتي کورته راغلل او ویې ویل: «موږ ستا د هغه اشنا داشنایانو اشنایان یو چه تاته یې سویه راوړې وه»

اوانتي ورته دزړه له کومې سلام وکړاو ویې ویل: «ډیره ښه ده، راځئ، دننه راشئ!»

ده دوی ته کوته وروښوه دله او هلته یې کښېنول، او دخړوبو یوه کاسه یې د کورنه راوړه.

میلمنو په دا سې حال کښې چه بوزې یې له خوابدۍ نه تاو کړې وو ویل چه: «دا څه شی دی؟»

اوانتي ورته وویل چه: «ولې؟ داخو د هغه سویي دزومنې دزومنې زومنه ده چه زما اشنا ماته راوړې وه».

مترجم: زین الله

OCT 31 1958
Copy

کابل مجله

ناسی کولای شی چه دا مجله په کابل کښي په (٤٠) افغانۍ په دنمه هیواد کښې په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په ۱۲ کلداري په نورو دباندنیو هیوادو کښې په (۳) ډالره لاس ته راولئ د ښوونځیو زده کوونکو ته په نیمه بیه.

د یوه کال د اشتراك دیاره په کابل کښې حمدغه بیه د پښتو ټولني د محاسبي مدیریت ته او په ولایاتو کښې د محمدي مؤسسي د جاري شمېر په (۷۸۷۵) لمبر افغانستان بانك ته سپارل کېږي.

د پښتو ټولني د تیر کال خپروني

۱ : پښتني دودونه ۲ : غوره اثرونه مؤلف ښاغلی الفت ۳ـ هغه وویل د جبران خلیل اثر

دولتي مطبعه